لیکونکی: هلال خېل

# د خصوصي کولو په پلمه په افغانستان کې د ملي شتمنیو چور او تالان

مخکې له دې چې خپل اصلي مطلب ته راشم، غواړم چې په افغانستان باندې د امریکا د متحده ایالتونو او یارانو د پوځي یرغل څخه په مخکنیو دورو کې د افغانستان د اقتصادي سیستم په هکله لنډ معلومات وړاندې کړم.
کله چې اعلیحضرت غازي امان الله خان د افغانستان سیاسي استقلال تر لاسه کړ، ددې سره سم یې په ټولو ساحو کې د افغانستان د پرمختګ په موخه پلانونه طرحه او د پلي کولو لپاره یې پراخه هلې ځلې پیل شوې، خو د افغانستان ولس سره بخت یاري ونه کړه او د اعلیحضرت امان الله خان واکمني د بهرنیو او کورنیو دسیسو ښکار او له منځه ولاړه او په ځای یې یو ډاکو او لوټمار، چې د سقاو په زوی شهرت لري د انګریزي ښکېلاکګرو په وسیله د واک په ګدۍ کېښینول شو. د نوموړي په توره دوره کې د معارف په شمول د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ ټولې چارې په ټپه ودرېدلې.
د ارواښاد نادرخان څلور کلنه واکمنۍ یوازې د هېواد په ثبات او امنیت په ټینګښت کې تیره شوه . د مرحوم ظاهرشاه د زمامدارۍ په دوران کې د نورو چارو په اړخ کې د هېواد د اقتصادي ودې او انکشاف په منظور څه ناڅه ګامونه واخیستل شول، یانې د افغانستان د اقتضادي ودې او پراختیا له پاره پینځه کلن پلانونه طرحه اود پلي کولو لپاره هلې ځلې کېدلې. که څه هم دغه پلانونه په بشپړه توګه عملي او تطبق نشول خو، بیا هم د ځمکو د خړوبولو د بندونو، برېښنا، سرک جوړولو او نورو سپکو او درنو صنایعو د تولید په منظور ځېنې لوې او وړې فابریکې جوړې او په فعالیت پیل وکړ.
د ارواښاد شهید داود خان د جمهوریت په څلور کلنه دوره کې د هېواد د اقتصادي چټک پرمختګ په موخه ډېر ګټور پلانونه تر لاس لاندې ونیول شو خو، د ۱۳۵۷ کال د غوایي د بدمرغې پېښې په راتګ سره د ارواښاد داودخان پلانونه د خارو لاندې شول.

د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ څخه تر ارواښاد داودخان د واکمنۍ له منځه تګ تر مهاله د افغانستان اقتصادي سیستم ددریوو برخو څخه جوړ شوی ؤ:
الف: په دولتي سکتور کې هغه اقتصادي پروژې او موسسې شاملې وې، چې سل په سلو کې ددولت په پانګه مېنځ ته راغلې وې. په دې لړ کې ګټورې پروژې او مؤسسات لکه د غوري سمټو او پلخمري فابریکې په مزار کې د کود اوبرق، په شبرغان کې د نفت او ګازو، د شمال د سالنګ تونل، دکابل جلال اباد لویه لار، د کابل-کندهار، کندهار-هرات سرکونه او داسې نور.
ب: په مختلط سکتور کې هغه پروژې شاملې وې چې ۵۱ فیصده پانګه دولتي او ۴۹ په سلو کې پانګه په خصوصي پانګوالو پورې تړاو درلود.
ج: په خصوصي سکتور کې هغه موسسې او پروژې شاملې وې چې سل فیصده پانګه یې د خصوصي پانګوالو په وسیله تمویلیدله.
د یادولو وړ ده چې د نیمګړتیاوو سره سره پورتنی اقتصادي سیستم د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ په منظور د پام وړ او ګټورې چارې سرته رسولې وې.
کله چې په ۱۳۵۷ کال د غوایي په اوومه د ا.خ.د.ګوند د یو وسله وال پاڅون په نتیجه کې واک ته ورسېد، ددغه ګوند مشرتابه، بې له دې چې د افغانستان د خلکو عیني او ذهني شرایط په پام کې ونیسي، په ډېره بېړه په ټولو برخو کې داسې پلانونه او طرحې تراجرا لاندې ونیولې چې په سلو کې یوفیصد یې هم د افغانستان کې د موجودو شرایطو سره سمون نه درلود.
په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د پوځي یرغل او واک ته د ببرک کارمل د رسیدلو سره سم د افغانستان او افغان ولس د تاریخي او کلتوري دودونو او اقتصادي سیستم د شوروي کېدلو چټکه لړۍ پیل شوه، خو له نیکه مرغه د پخواني شوروي پوځونه او په افغان ولس باندې تپل شوي لاسپوځي رژیم د افغانانو د سخت مقاومت سره مخامخ شو چې، په نتیجه کې شوروي یرغلګر پوځونه دافغانستان څخه ووتل. د پخواني شوروي د لښکرو د وتلو سره جوخت د افغانستان د چارو د شوروي کولو لړۍ هم د ماتې سره مخامخ شوه. دغه مهال په نړیواله کچه په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسیدلو او سولې د منځ ته راتګ لپاره د ملګرو ملتونو سازمان په مرسته پراخې هلې ځلې پیل شوې. ملګرو ملتونو د خپل استازو په وسیله د افغانستان لپاره د سولې

پلان وړاندې کړ خو، له بده مرغه مخکې له دې چې د ملګرو ملتونو د سولې پلان پلی شي، د افغانستان د خلکو بهرنیو دښمنانو لکه پاکستان، روس، ایران او داسې نورو د خپلو روزل شووشیرو لکه برهان الدین رباني، ملي خاین احمد شاه مسعود، مزاري، خلیلي، سیاف، د کارمل پلویانو، دوستم، کاویاني، وکیل، مزدک او ستمنیانو د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د سولې پلان د یوې کودتا په وسیله ناکام او سبوتاژ کړ چې، په نتیجه کې د افغانستان تاریخي دښمن صبغت الله مجددي او برهان الدین رباني ددوو او څلورو میاشتو له پاره د جمهور ریسانو په توګه د افغانستان پر ولس وروتپل. په افغانستان کې واک ته د تش په نامه مجاهدینو د رسیدلو سره سم د افغانستان اقتصادي، پوځي او ټولنیزو بنسټونو له مینځه وړلو، چور، لوټ او تالا کولو لړۍ پیل شوه یانې ټول اقتصادي، پوځي او کولتوري بنسټونه له بیخه ونړول شول تر دې چې د فابریکو، بریښنا او تلیفون مزي ټانکونه او الوتکې په پاکستان کې په کباړیانو وپلورل شول. افغان ولس د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۲ کال پورې د صبغت الله مجددي او برهان الدین رباني تورو دورو د چور تالان، شر او فساد په نامه نومولې ده.
د طالبانو په واکمنۍ کې هم د افغانستان اقتصادي ودې او پرمختګ ته هیڅ پاملرنه و نشوه.
خو، کله چې په ۲۰۰۱ م کال د امریکا متحده ایالتونو د خپلو پوځي او سیاسي انډیوالانو په ملګرتیا په افغانستان پوځي یرغل وکړ، د طالبانو واکمني یې نسکوره او د بن د یو نا افغاني تړون په وسیله یې خپل لاسپوڅې او د شمال ټلوالې د نا سپېڅلې ډلې جنایتکاران واک ته ورسول، او ددې سره سم غربیانو د افغانستان د بیا آبادولو غولونکې او تیر ایستونکې لوزونه او وعدې ورکړې. د امریکا متحده ایالتونو او ملګرویې د پخواني شوروي اتحاد په څیر د افغانستان او افغان ولس د ژوند د ټولو اړخونو او ارزښتونو په غربي کولو لاس پورې کړ. د خصوصي سکتور دپیاوړي کولو په پلمه په ملي شتمنیو چور او تالان جوړ دی. په دولتي سکتور پورې تړلي پخواني تاسیسات لکه تصدۍ او فابریکې، معدنونه او داسې نوریې بې د کوم قانون له شتوالي څخه په افغانستان باندې اوسنۍ مسلطې اقتصادي مافیا غړیو ته چې د ښاغلي کرزي د کورنۍ غړي او نورو لوړپوړو دولتي چارواکو د خپلوانو او یارانو سره په کې شامل دي بې له داوطلبۍ څخه په ډیره ارزانه بیه ورکړي اوورکول کیږي. همداراز د لومړنۍ اړتیا توکي هم په نوموړې اقتصادي مافیا پورې تړاو لري او د ازاد بازار په نوم یې په ډیره لوړه بیه بې له کومې ویرې په هېوادوالو پلوري. کله چې له دولتي مسؤلینو پوښتنه وشي چې د خلکو د لومړنۍ اړتیاو د توکو بیه ډیره اوچته ده، نامسؤلانه ځواب ورکوي او وایي چې ازاد بازار دی او مونږ د کنترول حق نلرو.
درنو لوستونکو: د خصوصي کولو او ازادولو ترپلمو لاندې په افغانستان کې چور، چپاول، لوټ او تالان ګډ دی. په پای کې دې نتیجې ته رسېږو تر څوپورې چې د افغانستان اقتصاد په افغانستان باندې د حاکمې اقتصادي مافیا د ولکې او منګولو څخه و نه ژغورل شي، تر هغو به د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا امکان لیرې بریښي او افغانان به د اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان وي.

---

# طنز

د خدای زورورو!

ملکانو، احمد ضیا مسعود او یونس قانوني، ته مو چې پرون ددوبۍ په هوایي ډګر کې له سرو او سپینو خزانو سره ونیول شول، سترګې مړې دي، خو تواچې ولسمشر، حامد کرزي، ته چې له ملکانو سره یې، بس، د بوجۍ خوله نیولې، نبغ نبغ کېږئ!
لږ په دې خپل ګرېوان کې، آخر، سر ښکته کړئ!!!

څرېن واک، ناروې
ډسمبر ۲۷، ۲۰۰۸

17-10-2007

د بېنوا و بېپانې څخه په مننه

# سپی څنګه جنرال شو ؟

طنز

د ارګ په دروازه کي يوه ډله خبريالان په دې نيامت ولاړ ول، چي په يوه مهمه خبري غونډه کي برخه واخلي. په دې وخت کي يونفرله ارګ څخه راو وت اودايادښت يې پرډېوال ونښلاوه:" هغه بهرنی سپی، چي پخوابه يې خلک تالاشي کول، نن ناروغه او متخصص ډاکټرېې ويلي چي، بايد درې ورځي استراحت وکړي ، نوله همدې امله نن مطبوعاتي کنفرانس نه شي جوړېدای".
رښتياهم نن ورځ د سپيانولپاره ډېره غمجنه ورځ ده، ځکه ښاروالۍ دوه ساعته مخکي کوڅه ډبو سپيانو ته په زهرو لړلي خواړه ور واچولي دي او اوس له کوڅواوسړکونوڅخه مړه سپيان راټولوي اوپه موټرونوکې يې له ښاره دباندې وړي. يوزوړ سپين سپی، چي چارچشمه نومېږي اوپه يوه پښه نګښي، تريوې موری ارګ ته ورننوتو. هلته يې وليدل چي، يوه سړي يوتورسپی په درې اربيزه ګاډۍ کې کښېنولی اوشا وخواپه ارګ کي چکر ورکوي. په ګاډۍ کي ناست سپي داړي جينګي کړې، خپل ټټرته يې اشاره وکړه اوويې ويل: زما نوم جنرال" براون جيټ" دی اود امريکا د متحده ايالاتوپه پوځ کي د پوليسي سپيانو ديوولسم ټولي قوماندان يم او دا زما معالج ډاکټر"مايکل" دی.
بياچارچشمه په عاجزانه کړونچي سره ځان جيټ ته ورو پېژانده اود ښاروالۍ د کمپاين خبره يې ورته وکړه. جيټ دزړه سوي په ډول پرچارچشمه بوی وکيښ اوبيايې هغه خپل دفتر ته بوت . چارچشمه خپله لکۍ وښوروله اوويې ويل: من، من غوښه اخلم چي، نن يوسپی داسي لوړمقام لري. بياجيټ هلته يوه بهرني سړي ته اشاره وکړه او ويې ويل چي، دی"جېک" نومېږي اوزموږ دټولي اشپز دی، بيايې "جېک" ته وويل چي، مېلمه ته ډوډۍ راوړي . جېک هم سمدلاسه چارچشمه ته غوښه، بسکېټ اومعدني اوبه راواخيستلې. چارچشمه د جيټ په دفترکي دقيمتي مېز، څوکيو، غاليو، پردو، يخچال، ايرکنډېشن او نوروقيمتي سامانونوپه ليدويوې اوبلې خواته حيران حيران کتل. په دې وخت کي يې پرڅوميډالونو سترګي ولګېدې او ويې وپوښتل:
دا ميډالونه دچا دي؟
_ دا زما دي.
_ څه شی ستادي ؟ دالومړی وار دی چي، د سپي دميډال اورم!
_ په پوځ کې ميډالونه معمولاً دسولي نه، بلکي دجګړې اتلانوته ورکول کېږي او دجګړې له هغواتلانو څخه يو زه هم يم .
_ تا خوماته وويل چي، په ارګ کي دتالاشۍ دنده لرئ، دجګړې خبره خومو و نه کړه
جيټ دغرورپه ډول و ويل: لس کاله کېږي چې،زه په پوځ کي کارکوم. لومړی ماموريت مې د ګوانټناموپه زندان کي و اوهلته مي د تحقيق په څانګه کي کارکاوه. هرچا چې، به اقرارنه کاوه، انسانانوبه يې لاسونه او پښې وروتړل، په سربه يې توره کڅوړه ورواغوستله او بيا به يې زه ورخوشي کړم چي، ويې دارم. مابه هم ترهغو داړه چې، يا يې اقرارکولای اويا مړکېدای. يو ورځ مې د يوه سړي په غاړه داسي کلکه خوله ورولګوله چي، ځای پرځای مړ شو. د زندان چارواکو اوازه واچوله چې، دې سړي په خپله ځان وژلی دی، خوما ته يې ددې قهرمانۍ په بدل کي دغه يود سرو زرو ميډال راکړ. داچې، له انسان سره په مبارزه کي قهرمان شوم نود لسوخروړوسپيانو په مشرۍ په عراق کي د"ابوغريب" زندان ته ولېږل شوم. هلته يوه ورځ دزندان چارواکو له يوه بندي څخه کالي وايستل ، پښې او لاسونه يې وروتړل او بيا يې زه ورخوشي کړم، سړی چي، مي هرڅومره وداړه، داسي کلک و ،لکه ډبره ، ګردسره يې اقرار نه کاوه، خوکله چي مي يې په سر خوله ورولګوله او ومي غوښتل چي،ماغزه يې وخورم، نو بندي سمدلاسه په ژړا پيل وکړ. قوماندان مي دغه نوی تاکتيک ډېرخوښ کړ اوماته يې زما ددې قهرمانۍ په بدل کي يو د سرو زرو ميډال راکړ. دا چي هلته

مي د ترهګرۍ ضد مبارزې کي لوړ نوم وګاټه، نو دلانورخدمت له پاره یې افغانستان ته راولیږلم. دغه دوه میډالونه وینې؟ دا مي دلته ګټلي دي؛ په افغانستان کې مې یوازي میډالونه نه، بلکي د جنرالۍ رتبه هم وګټله.
چارچشمه یوهډوکی په تکلیف ترستوني تېرکړاو ویې ویل: ښه انډیواله اوس داراته ووایه چي، ارګ ته څنګه راغلې اودلته دي دنده څه ده؟ جیټ بریتونه پورته کړل اوویې ویل : زه چې، کله افغانستان ته راغلم، نولومړی ماموریت مي دکندهار او دوهم دبګرام په هوايي ډګرکي و. په دې دواړوځایونوکي مي دګوانتنامواوابوغریب په شان خپله دنده په ډېربریالیتوب سرته ورسوله، تردې وروسته دافغانستان د اساسي قانون دلویې جرګې دڅارني لپاره وړ وګڼل شوم چې، دا په حقیقت کې زمالومړی سیاسي ماموریت و. کله چي هلته هم ښه وځلېدم نوبیا ارګ ته راوستل شوم. دلته زمادنده یوازي داده چي، ارګ ته د باروتو د راوړلو مخه ونیسم. که څه هم ارګ ته ډېرداسي خلک راځي چي، له لاسونو یې دتاریاکو او انسان دوینو بوی ځي او دوی ددولت لوړپوړي چارواکي هم دي خو، زه دوی نه رسوا کوم.جیټ دارګ عمومي دروازې ته وکتل او ویې ویل: په دې ارګ کې دواک پرسرډېرو انسانانو یودبل وینې توی کړي دي، ډېرو نژدې خپلوانویودبل سترګې ړندې کړي دي ، ان داچي، شاګرد خپل استاد وژلی دی. پردې ارګ داسي انسانانو هم برید کړی چي، ډېر باور ورباندي شوی و او دارګ دساتني لپاره ګمارل شوي ول، خوله څه مهاله راهیسي چي، په ارګ کې پرسپي اعتماد شوی، نوله نېکه مرغه هیڅ یوه بده پېښه نه ده شوې. تر دې وروسته جیټ د غرور په ډول په زوره، زوره وغپل اوځو واره په خپل دفترکي سره راوګرځېده چي، چارچشمه هم دغه ډول غپاورسره بدرګه کړل. چارچشمه دغوښې ترخوړلو وروسته پر شونډو ژبه تېره کړه او ویې ویل: زما مهربانه ملګرې! نه شي کېدای چي، ماته هم دغه ډول یوه رسمي دنده را پیدا کړې؟ جیټ په خپله پسته څوکۍ کي وغځېده اوویې ویل: ولي نه! ته هم زما په شان رسمي کارکولای شې، خو ستونزه دا ده چي، ستا انګلیسي ژبه نه ده زده. نن چي، د چا انګلیسي زده وي، بس هرڅه یې زده دي، استعداد ته یې څوک نه ګوري. په افغانستان کي ګڼ شمېر بهرنیان یوازي له دې امله چي، بهرنیان دي، لوړډالري معاشونه لري. دا زما معالج ډاکټر"مایکل" وینې! دی یوعادي نرس دی، خودلته دډاکټرپه نوم راغلی اوپنځه زره ډالره معاش اخلي. دا زماخدمتګار، "جېک" یومخ بې سواده دی، خودرې زره ډالره معاش لري. بل داچي، ته دافغانستان سپی یې، که څېري خارجي سپی وای اویا دي خارجي تابعیت درلودای، نو اوس به دي زما په شان ډېره لویه څوکۍ درلودای. لکه څنګه چي بهرنیان پرافغانانو باورنه کوي، دغسي یې پرسپیانو هم باورنه کوي. دا دی وګوره په افغانستان کې ګڼ شمېربهرني سپي په امنیتي اونظامي برخه کي کارکوي. حال داچي ،که د افغانستان سپیانو ته هم روزنیز ورکشاپونه جوړ شي، نودغه ډول کارونه کولای شي. په دې وخت کې د جیټ پام شو چې، چارچشمه سرپرخپړوایښی اوسترګې یې له اوښکوډکې دي. جیټ د چارچشمه سرپرخپل زنګانه کښېښود ، اوښکې یې ورپاکې کړې اوپه مهربانۍ یې ورته وویل: ګرانه دوسته! ته ناهیلی کېږه مه. زه په افغانستان کي دسپیانوراتلونکی ډېر روښانه وینم، ځکه افغانان ورځ په ورځ یوپربل بې باوره کېږي، چي په نتیجه کي یې ګډوډي هم ورسره ډېرېږي؛ که څېري دغه حالت نور هم دوام ومومي، نوموږ ته به ډېرکارونه راپیدا شي، چي اخر به د پولیسو په هره پوسته کي یوه یوه سپی ته اړتیاپیدا شي. ددې خبري یوثبوت دادی چي، نن په افغانستان کي په زرګونونظامي کدرونه بېکاره اوبې سرنوشته ګرځي، خو زه اوزماپه شان نورسپیان ډېري ښې وظیفې اوامتیازات لري. زه باورلرم چي، یو وخت به په افغانستان کي یوسپی هم بېکاره پاتې نه شي. جیټ له خپلې څوکۍ څخه ولاړ شو، په کوټه کي یې شا وخواوکتل او و یې ویل: نن هغه وخت نه دی چي، د یوبد اوټیټ انسان تشبه دي له سپي سره وشي، نن په لویدیځو هېوادونو کي خلک له حیوان، په تېره بیا سپي سره یوځای اوسېدل، یوځای ډوډۍ خوړل ،مینه کول او ان داچي، واده کول نوی تمدن بولي. جیټ په خپله کوټه کي پردېوال دیوې ښکلي ښځي عکس ته اشاره وکړه او ویې ویل: دا وینې؟ دا زما انډیواله (Girl friend) ده، چي "جولیا" نومېږي. دا یوه ملیونره ده چي، په امریکا کي اوسېږي اودحیواناتودحقوقود سازمان مشره هم ده. پرماډېره ګرانه ده اوزه هم پردې ډېرګران یم، ماته دغه وظیفه هم دې راپیدا کړې او وصیت یې کړی چي، تر مړینې وروسته به یې ټوله پانګه زما وي او بله خولادا چې، شپږ میاشتي وروسته چي، زما رخصي ده، زما سره واده کوي.
تر دې وروسته جیټ دمهربانۍ په ډول خپله خېړه دچارچشمه په غاړه کي ورواچوله او ورته ویې ویل: ګرانه ملګرې! ما دافغانستان په اړه ډېري څېړني کړې، خوپه دې باب مي تراوسه دسپي له خولې څه نه دي اورېدلي، نوکه ته لومړی دځان اوبیا دافغانستان دتیروځوکلونو په باب لنډ معلومات راکړې، ډېربه خوښ شم. چارچشمه سرله څېړوڅخه راپورته کړ، غوږونه یې شک شک ونیول او ویې ویل :
زما خاوند دکمونستانو دحکومت په ورستیو وختونوکې دحکومتي ملېشوقوماندان وچي، "یلداش" نومېده. نوموړي زه او زما ورور"خاکي" له لومړۍ ورځي څخه دجنګ لپاره لوی او وروزلو. یوه ورځ خاکي د سپیانوجنګولو (سګوانۍ) په میدان کي دیو غښتلي سپي له لاسه مات شو. یلداش ته درد ورغی او زما ورور یې په هغه میدان کي په میکاروف توپنګچه وویشت او مړ یې کړ.

کله چي، په کابل کي د مجاهدينو حکومت جوړ شو، نو زما خاوند د ملي اردو جنرال شو. څو ورځي لا نه وې تېري شوي چي، د جهادي تنظيمونو ترمنځ جګړې پيل شوې او ګام پرګام پاټکونه جوړ شول. نور يې څه کوې، ترخه او پاچاو، چې، جنرال يلداش هم يو پاټک جوړکړ. د ده ايله جاريانو به هره ورځ په لسګونو خلک بنديانول، دچا په سرکې به يې مېخونه ورټکوهل او څوک به يې په مړيني نځول. يوه شپه يې يو سړی چي، پښې اولاسونه يې ورتړلي ول، ما ته راواچاوه، مايې لومړی پزه او غوږونه وخوړل او بيا مي يې نس ورڅيري کړ. په دې وخت کي زما خاوند داسي په خوند، خوند راته کتل، لکه دده چي هم دانسان دغوښو خوراک ته هوا شوې وي. زما په ژوند کي ترټولو ښه خاطره هم دغه ده چي دانساني غوښ مې وخوړې او هغه هم داسي يو انسان چې خپله انسان په خوله کې راکړ. په دې ورځو کې په افغانستان کې دانسانانو ترمنځ جګړه داسي توده وه چي، د سپيانو جنګول يې ګرد سره له ياده وتلي ول. يوه ورځ د يوې مخالفې جنګي ډلي يوه قوماندان چي، طلاخان نومېده زموږ سيمه ونيوله اوزه په يوه زېرخانه کي په موږې پوري تړلی پاته شوم. طلاخان زما په ليدو خورا خوشاله شو. تريو څه وخت وروسته دطلاخان يو ملګری" جبار" زما انډيوال شو، د وخت په تېرېدو سره جبارته سړيتوب بد وايسېده او سوکه، سوکه يې د سپيانو پښې پيل کړې. لومړی يې خپل وښتان د سپي په ډول ببرپرېښوول، بيا يې د سپي په شان غپل زده کړل اوتر دې وروسته يې د سپي په ډول داړل او دغوښو خوړل هم زده کړل چي، بيابه ما اوده په ګډه دانسانانو غوښي خوړلې. بيا يو داسي وخت هم راغی چي، جبارپه ښکاره له سړيتوبه واوښت اود سپيتاني اعلان يې وکړ. په دې وخت کي جيټ له ډېري خوشاليه له خپله ځايه ټوپ وهل، چارچشمه يې په غبرګي ونيو او ويې ويل: نوجبار اوس چيري دی؟

_ هغه دطالبانود رژيم تر ړنګېدو وروسته حکومت ونيو او اعدام يې کړ.

_ اوف! نو ولي يې اعدام کړ؟

_ هغه دخپلې سياسي مفکورې له امله اعدام شو

_ څه شی! د سياسي مفکورې له امله ؟

_ هو! ځکه جبار د هغه سياسي ګوند غړي و، چي اوس د امريکايانو په تور ليسټ کي شامل دی.

که څه هم دولت ظاهراًجبارته دسلونفرو وژل پلمه کړل، خوپه حقيقت کي يې هغه د خپلي سياسي مفکورې له امله اعدام کړ، ځکه په افغانستان کي داسي ډېرکسان شته چي، په زرګونو افغانان يې وژلي دي. دغه کسان نه يوازي داچي، چا حساب کتاب ورسره و نه کړ، بلکي اوس هم سرې سترګې ګرځي اودولت په لوړو پوستونوکې هم کار کوي .

جيټ خپري سره وموښلې او ويې ويل: که زه هغه مهال په افغانستان کي وای، نوهيڅکله به جبارنه وای اعدام شوی. ياره دې طالبانوخوډېرلوی خيانت کړی دی چي، په کابل کي يې دغسي يو طلايي حکومت ړنګ کړ، که نه نو اوس به مود خپل انسان الاصله سپي په مرسته ډېرملګري پيدا کړي وای.چارچشمه دډاډ په ډول دجيټ پر اوږه خپره کښېښووله اووه يې ويل: يوبل زېری به هم دربانديې وکړم، هغه داچې دکمونستانو په دوره کې هم دوه نفره له سړيتوبه اوښتي او په ډېرويار يې سپيتانه منلې وه. جيټ له ډېرې خوشالۍ ټوپونه ووهل او چارچشمه ته يې وويل چې، هله ژر راته ووايه چې داڅوک ول؟ چارچشمه وويل: کله چې دکمونستانو په لومړيو وختونو کې انجنېرظريف دکندهار والي و، نود سپيو په نوم يې دوه نفره ساتلي ول چې داقرار اخيستلو لپاره به يې بنديانوته ورايله کول اوهغوی به هم بنديان داسي کلک وداړل چې، اصلي سپيان به ورته هېښ پاتې شول. جيټ وپوښتل: هغه دوه نفره اوس چيري دي ؟ چارچشمه وويل: نه يم خبرچې هغوی به اوس چېري وي؟ تردې وروسته چارچشمه دجيټ غوږ ته خوله ورنژدې کړه اويې ويل: ګرانه ملګرې! ماخو تاته مخکي وويل چي، زه په ډېربد حالت کي ارګ ته راغلی يم، اوس داراته ووايه چي بايد څه وکړو؟ جيټ دخندا په ډول خوله ويره کړه او ويې ويل: ګرانه دوسته ! ته زړه مه اچوه، زما سره طرحه شته. لومړی خوداچي، ته بايد انګلېسي ژبه زده کړې. چارچشمه دحيرانتيا په ډول غوږونه شک شک ونيول او و يې وپوښتل: څه شی! انګلېسي ژبه زده کړم؟ ماخونه څوک دانګليسي ژبې په کورس کې شاملوي اونه دفيس وس لرم. جيټ چارچشمه په غبرګي ونيو اوورته ويې ويل: ولي وارخطايې ګرانه، زه خولا ژوندی يم. زه به انګلېسي در زده کړم. هره شپه ارګ ته راځه ، زماسره به ډوډۍ هم خورې او انګلېسي به هم درته ښيم، په دريو څلورو مياشتو کي يې زده کولای شې. څلورمياشتې وروسته زما انډيواله" جوليا" کابل ته راځي، زه به دي ورته معرفي کړم او هغه به دي له ځانه سره امريکا ته بوزي. هلته به يو ورکشاپ ووايې، تر هغه وروسته به جوليا بهرنی تابعيت درته واخلي اوبيا به په امريکايي ځواکونوکې بيرته افغانسان ته راشې. بيا دې نوخولې په غوړوکي ده، زما په شان به ډېر ښه پوستې ولرې، دارې خوبه دي ښې تېرې وي کنه ؟

چارچشمه داړي سپيني کړې او ويې ويل:

_ هو! داسي تېرې دي چي، اوښ په څيرلای شم

ـ څه شی اوښ؟ یاني ته غواړې چي، یوحیوان څیري کړې؟

ـ نه دغسي یوه خبره مي وکړه، ما ویل که اړتیا پیداشي نو اوښ هم څیرلای شم

ـ هیڅ اړتیا نه پیداکیږي ، ځکه چي موږ انساني پوځیان یو اوانسان ، نه یوازي داچي ټولي جګړې یې له انسان سره دي، بلکې خپلي ټولي لویې سلاوي یې هم دانسان لپاره جوړې کړې دي، خوپه هر صورت ستامسئولیت یوازي په دې سره پای ته نه رسېږي چي، ته یوعسکري صاحب منصب شې، ته باید لومړی په کابل اوبیا په نورو ولایتونوکې دانګلیسي ژبې کورسونه جوړکړې چي، له دې لاري دافغانستان سپیانوته کارونه پیداشي. چارچشمه په اند ښنه وویل: نو دافغانستان اردوخوډېره کوچنۍ ده،

ایاټولوسپیانوته به کارپه کښي پیدا شي؟ جیټ وخندل او ویې ویل: ستاخبره سمه ده خوما په دې باب هم فکرکړی دی. تاته خومعلومه ده چي، په نړۍ کي دچرګانووالګی ورځ په ورځ مخ پر ډېرېدودی اوپه افغانستان کي یې هم نښې نښانې لیدل شوي دي اوځیني سپي اوګیدړي دغه ناروغه چرګان خوري چي، په دې ډول دافغانسان دسپیانو روغتیا ته یوجدي خطرمتوجه دی. زه به دغه موضوع زماله انډیوالي "جولیا" سره شریکه کړم. هغه کولای شي چي، دافغانسان دعامي روغتیا وزارت په چوکاټ کې، دچرګانود والګي دمخنیوي لپاره یوپروګرام جوړکړي. دا پروګرام به دسپیانولپاره دچرګانو دوالګي په اړه دعمومي خبرتیا ورکشاپونه وي چي، ټول استادان به یې سپیان وي. زه فکرکوم چي، ددې پروژې په عملي کولو سره به دافغانستان دعامې روغتیا په وزارت کي ډېروسپیانو ته کارونه پیداشي. داخو دافغانستان دسپیانوخبري وې، خوزماسره په نړیواله کچه هم دسپیانودژوند په اړه یوجامع پلان شته. موږ باید دنړۍ دټولوسپیانودخپلواکۍ، بقا، هوساینې اونېکمرغۍ لپاره مبارزه وکړو. همدا اوس په ایران کې دسپیانولپاره یو زندان جوړ شوی دی. موږ باید ددې زندان دله منځه وړلو لپاره دژوند تراخري سلګۍ پوري خپلې مبارزۍ ته دوام ورکړو. زه باورلرم، چې موږ به په دې لار کې خامخا بریالي کېږو. دایران دولت باید پوه شي چې دوی سپي په زندان کې اچولي دي. سپي خدای پاک دوزخ ته هم نه اچوي نو دایران دولت څه حق لري چې دسپیانو لپاره زندان جوړوي؟ داخو انسانان نه دي چې په ګوانتناموکې به بندیان وي اوله هرډول انساني قانون پرته به شکنجه کیږي اوهیڅوک به یې نه پوښته کوي اونه دچا زورپه رسېږي. امریکایان خو داهم وایي چې اصلاً داسي انساني قانون نشته چې د دې خلکوله حقوقودفاع وکړي. زه امریکایانوته داحق ورکوم، چې انسانان د ګوانتناموپه زندان کې دسپیانوپه شان وساتي،ځکه انسان پوه شه اوقانون یې، خوزه به انسان په تېره بیاد ایران دولت ته هیڅکله داحق ورنه کړم، چې دګوانتنامو د زندان په شان سپي بندیان کړي. دنړۍ سپي نه یوازي داچې باید خپلواک، هوسا، باوقاره او نېکمرغه ژوند ولري، باید ترمړیني وروسته هم په ډېر درناوي خاورو ته وسپارل شي اوجلا هدیره ولري. له نېکه مرغه چې اوس هم په نړۍ کې دسپیانو هدیرې موجودي دي، چې همدااوس دنړۍ دسپیانوترټولولویه هدیره په روسیه کې ده، چې څلوېښت زره سپي په کښي ښخ شوي دي. تردې وروسته باید دنړۍ ټول سپي ترمړیني وروسته په ډېردرناوي خاورته وسپارل شي، نه داچې دافغانستان غوندي په ډله ییز ډول ژوندي ښخ اویا تر ډله ییزي وژني وروسته په یوه قبرکې واچول شي. موږ باید دانسانانوغوندي له خپلوهمجنسو اوعزیزانو سره دومره لوی ظلم و نه کړوچې دسپیتاني تاریخ په وشرمېږي.

چارچشمه چي تردې وخته یې په خورادقت دجیټ خبروته غوږ ایښی و اوله ډېري خوشالیه یې پر مخ اوښکي رابهېدلې، ناڅاپه له یوه لوی غپ سره ټوپ کړه او دجیټ په غاړه کي یې دمخ دوې پښې ور واچولې او ورته ویې ویل: ګرانه دوسته! ته واقعاً چې دنړۍ دسپیانو لپاره ستر ارمانونه او ښه نیت لرې، زه به دمرګ تر وروستۍ شېبې پوري په دې مبارزه کې ستاپر اوږه ولاړ یم او زه باور لرم چې موږ به خامخا یوه ورځ بریالي کېږو.

ګرانه ملګریه! راشه چي په دې ویاړ، نن شپه ترسهاره په زوره، زوره وانګولو او په دې ډول انسانانو ته دا وښیوچي، وګورئ! دوه سپیان دسیمه ییز، قومي، رنګ، نژاد اوداسي نوورو توپیرونوسره سره دنړۍ دټولوسپیانو د خپلواکۍ، نېکمرغۍ اوسرلوړۍ په نیامت سره یوموټی شول. تردې وروسته جیټ او چارچشمه ترسهاره په زوره، زوره وانګولل او په ارګ کي یې هري خواته منډې ووهلې، خو دوی نه چا ولیدل او نه یې ددوی انګولاوي واورېدې. لکه چي، دافغانستان واکمنوته کوم مظلوم پښتون دا ښیرا کړې وي چي:" پرمېنه دي تور سپی وانګوله".

عبدالنافع همت

نر خپله وینه وچوي قام له سبا جوړوي ستر‌ګې په سرو غرموکې وړي ساتي نظر په سیوري
بادشاه هغه وي چې لښکرې په خپل سیوري ساتي هـغه غلام وي چې ساتي ځان د لښکر په سیوري
ډاکتر یاسین اقبال یوسفزی

# په افغانستان کې د ایدز ناروغي

لیکونکی:م. ن. سالارزی

څرنګه چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی، افغانانو تل د تاریخ په اوږدو کې د خپلو سپېڅلو اسلامي او ملي ارزښتونو څخه په مېړانه ساتنه کړې او کوي یې. افغانستان تل د خپل جغرافیوي موقعیت له امله د نړۍ د سترو ښکېلاکګرو هېوادونو او مستبدینو د تیري ډګر ګرزېدلی و او دی. دنړۍ او سیمې یرغلګرو هر مهال هڅه او هاند کړی چې د خپل پوځي توان په څنګ کې داسې وسایلو څخه کار واخلي چې د افغان ولس د اسلام غوښتنې او خپلواکۍ غوښتنې روحیه او احساس کمزوری او له مینځه یوسي، ترڅو وکولا شي په اسانۍ سره افغانستان تر خپل ښکېلاک او ولکې لاندې راولي. خو، له نیکه مرغه هر مهال د ښکېلاکګرو او یرغلګرو شوم او ناوړه پلانونه د افغان ولس په مقاومت او قربانیو سره د خاورو سره برابر شوي دي.
کله چې په ۲۰۰۱ م کال کې د امریکا متحده ایالتونو د خپلو ملګرو په مرسته په افغانستان باندې د پوځي تیري په نتیجه کې خپل لاسپوڅي او د شمال د قاتلینو او ډاکوانو ټلواله یوځای د واک په ګدۍ و ټومبله، یرغلګرو د خپلو کورنیو لاسپوڅو په مرسته د افغانانو په ضد دخپل پوځي ځواکونو او وسایلو د استعمال تر څنګ په افغانستان کې د فحشاوو او بداخلاقیو د رواجولو او عاملو په منظور لاس پورې کړ. په کابل او ځینې ولایتونو کې دبداخلاقیو په منظور هوټلونه، مېلمستونونه او د فحشا مرکزونه جوړ او د غرب او جنوبي اسیا څخه یې ورته په سلګونو بدکاره او بداخلاقه ښځې را انتقال کړې، او شراب عام شول. که څوک په دغه نامشروع او غیر اسلامي عملونو نیوکه وکړي او د مخنیوي لپاره یې اواز اوچت کړي په افغانستان کې ښکېل غربي هېوادونه او افغاني لاسپوڅي یې په یوه خوله نارې سورې جوړې کړي چې دموکراسي ده او هر څوک د هر څه کولو اوویلو اجازه لري، هیڅ څوک یې د مخنیوي حق نه لري. که دداسې عملونو مخه ونیول شي دموکراسي د ماتې او خطر سره مخامخ کېږي.
همداراز یرغلګرو په افغانستان کې د اخلاقي فسادونو د رواجولو، او په ځانګړې توګه د تنکیو ځوانانو او پېغلو د بې لارې کولو او اخلاقي زوال په منظور یو شمیر تلویزیوني چېنلونه په کار اچولي دي چې په سلو کې دوه فیصده خپرونې یې هم د افغان ولس د ملي او اسلامي ارزښتونو سره سمون نلري. په نوموړو تلویزیونونو کې د اروپا، امریکا، ایران، او هندوستان مبتذل او بې لارې کوونکې سندرې، نڅاوې، فلمونه او سریالونه خپروي چې خلک بد اخلاقۍ او بې حیایۍ ته هڅوي. یرغلګر غواړي په دې وسیله د افغانانو اسلامي او ملي روحیه کمزورې کړي او په اسانۍ سره وکولاي شي خپلې موخې پلې کړي. په څرګنده خو بهرنیان د افغانستان د بیادوانولو او سولې لپاره راغلي وو خو، مونږ وینو چې دادې څه دپاسه ۷ کاله تیر شو نه په افغانستان کې سوله او امنیت ټینګ شو او نه افغانستان ودان او ورغول شو. امنیت د پخوا په پرتله څو ځله خراب، د بیا ودانولو او رغولو لپاره راوړل شوي ډالر په غرب پورې تړلې مافیا جیبونو ته لوېږي او بیرته بهرني بانکونو ته انتقالېږي. د افغان کړېدلي ملت کړاوونه او ستونزې د یوې ورځې څخه بلې ته زیاتېږي.
د افغانستان لپاره د امریکا د متحده ایالتونو د سولې او امنیت د راوستلو او بیا ودانولو شعارونه یوازې غولونکي شعارونه دي. د یرغلګرو اصلي موخه په افغانستان کې د اخلاقي فساد خپرول او د افغانانو د ملي او اسلامي ارزښتونو ړنګول دي او په دې موخه یې د ایدز خطرناکه ناروغي افغان ولس ته ډالۍ کړه. نور دې الله پاک فضل وکړي چې غربیان به مو په نورو کومو خطرناکو بلاګانو اخته کوي.

لیکونکی :غلام جیلاني ځواك

# قومي ملیشه په عراق او افغانستان کې

سره له دې چې سوله او عراق لا اوس هم په ډېر واټن کې سره پراته دي، خو په تیرو څو اونیو کې د عراق په امنیتي وضعیت کې یو څرګند توپیر لیدل کیږي د پخوا په پرتله وسله والې نښتې او ځانمرګي بریدونه لږ شوي او داسې ښکاري چې وضعیت ورو ورو د ارامۍ خوا ته روان دی. عراق ته د عراقي کډوالو بیرته ستنیدل د دې خبرې یو ښه ثبوت دی، خو بیا په افغانستان کې وضعیت د عراق برعکس دی، دلته په تیرو څو میاشتو کې نه یوازې دا چې وسله والې نښتې زیاتې شوي، د ځانمرګو بریدونو شمیره هم لوړه شوې.
په عراق کې د سولې په لور د پرمختګ یو عامل هلته د سني ملیشې جوړیدل بلل کیږي. امریکا هلته په دې بریالي شوه چې د سني قبایلو څخه یوه ملیشه جوړه کړي ترڅو د هغوي له لارې د ترهګرو مخه ونیسي. امریکا همداسې یو پروګرام د افغانستان په هکله هم لري، په نظر کې ده چې د ډیورنډ د کرښې هاخوا یوه قبایلي ملیشه جوړه شي ترڅو وکولای شي هلته د ترهګرۍ مخه ونیسي، خو ایا کومه تجربه چې په عرا ق کې بریالۍ بریښي ، هغه به هرو مرو په افغانستان کې هم بریالۍ وي؟
په عراق کې د صدام حسین په مشرۍ د بعث ګوند سره لدې چې یو سیکولر ګوند وو خو ډیره کي غړي او بیا په تیره مشریزه یې د عراق سنیان وو. د عراق شیعه وګړي چې د عراق اکثریت جوړوي په واك کې یې یا ګډون نه درلود او یاهم ګډون یې ډیر کمرنګه او پیکه وو، کله چې په عراق کې د صدام حسین رژیم د امریکا د تیري په نتیجه له منځه ولاړ، نو په حقیقت کې په عراق کې د سنیانو واکمنۍ ته د پای ټکي کیښودل شو.
په عراق کې د امریکا په وړاندې پاڅون کوونکي هم په عمده توګه د عراق سنیان دي. پر عراق د امریکا له بریدو نه وورسته نه یوازې دا چې د بعث ګوند غړو په خورو ورو جګړو لاس پورې کړ، بلکې القاعدې ته هم د ډیرو دلایلو له امله دا یو طلایي فرصت وو چې په عراق کې د امریکا په وړاندې د جګړې لارښوونه او مشري په خپل لاس کې واخلي. اوباید په یاد ولرو القاعده هم یوه سني ډله ده، نو په عراق کې د امریکا په وړاندې د مقاومت عمده محور د عراق سنیان دي. القاعدې او دعراق نورو پاڅون کوونکو وکولای شول عراق په امریکا سره تبۍ کړي، په عراق کې د امریکا د پوځیانو وژنه د نه زغم کرښې ته ورسیده او په عراق کې جګړه چې لا دپیل نه یې په ټوله نړۍ او پخپله امریکا کې مخالفین تر پلویانو ډیرزیات وو، لا زیات مخالفین پیدا کړل، د عراق جګړه لامل شوه چې ریس جمهور بش اود جمهوریت غوښتونکو ګوند خپل محبوبیت له لاسه ورکړي. د عراق جګړه اوس په یوې داسې جګړې اوښتې چې ګټل یې هیڅ اړخ ته شوني نه ښکاري. امریکا ته ګرانه ده تر نا مالومې نیټې دا جګړه پرمخ بوځي او هره اونۍ د خپلو لسګونو عسکرو وژل وزغمي. ترهغه ځایه چې په القاعدې پورې اړه لري نو د جګړې اوږدیدل د القاعدې په ګټه دي. ترهګریزه جګړې د جبهه یې او منظمو جګړو په شان څرګنده ماته او سوبه نه لري. د القاعدې د ترهګریزه جګړې هدف هم د عراق نه د امریکا د پوځونو ایستل نه بلکې په ټولیزه توګه له سیاسي او اقتصادي اړخه د امریکا کمزوري کول دي، چې د جګړې اوږدول یې یوه عمده لار ده.القاعده همدا هدف په افغانستان کې هم تعقیبوي، دا جګړه چې څومره خوره او څومره اوږده شي د القاعدې په ګټه ده. خو د القاعدې د عراقي څانګې لخوا د ترهګریزه بریدونو لپاره د د شیعه میشتو سیمو په نښه کول او د عامو شیعه وګړو وژنو د عراق جګړې ته یو نوی خطرناك لوری ورکړ، عراق چې لا دمخه د کردانو د بیلتون غوښتنې سره مخ دی د شیعه سني کړکیچ پورته کیدو عراق د ویش او ټوټې ټوټې کیدو د یو ډیر جدي ګواښ سره مخ کړي، که جګړه په همدې شان دوام وکړي او امریکا بالاخره دې ته اړشي چې دعراق نه خپل پوځونه وباسي نو شاید بیا د عراق د تجزیې مخه هیڅوك ونشي نیولی.
که عراق تجزیه شي نو څه به وشي؟ د عراق د تجزیې اغیزې یوازې په عراق کې دننه نشي پاتي کیداي بلکې د عراق تجزیه ښایي د ټولې سیمې د جغرافیایي بدلون لامل وګرځي. له عراق څخه د کردانو بیلتون یوازې عراقه پورې تړلې ندي بلکې که دا اور بل شو نو ایران او ترکیه په کې هم سوځي ځکه چې ترکیه او ایران کې هم د پام وړ شمیر کردان شتون لري او که د عراق کردانو وکولای شول خپله خپلواکي ترلاسه کړي، هرو مرو به د ایران او ترکیې کردان هم ورسره د یو ځاي کیدو هڅه وکړي. له بلې خوا د عراق د تیلو ټول عمده ذخایر په شیعه او کرد میشتو سیمو کې دي، نو که عراق تجزیه کیږي سني عراق به یوداسې هیواد وي چې هیڅ به ورسره نه وي او برعکس شیعه عراق سره به د تیلو تر ټولو سترې زیرمې وي اوکه ایران او عراق د تیلو د سترو زیرمو سره د یو موټي اومتحد اقتصادي او سیاسي ځواك په توګه په سیمه کې را برسیره شي، دا به هم د خلیج نورو هیوادو اوهم د امریکا ګټو ته یو ستر ګواښ وي. القاعده هم د یو سني ځواك په توګه چې شدید عربي ناسیونالیزم هم ورسره ملګری دی ښایي دې ته زړه ښه نه

کړي چې په سیمه کې دې د شیعه وو او هغه هم د ایران په ګټه د سیمې اقتصادي سیاسي انډول توپیر ومومي. ښایي دې ګډ ګواښ په عراق کې د سني ملیشه جوړیدو ته زمینه برابره کړي وي. ځکه چې د عراق د ویشل کیدو په صورت کې ترټولو ستر زیان د عراق سنیانو ته اوړي او بیا وروسته نورو عربي هیوادو او امریکا ته.
لکه څرنګه چې دمخه وویل شول امریکا په نظر کې لري چې په افغانستان کې د ډیورنډ د کرښې هاخو په قبایلي سیمو کې هم همداسې یوه ملیشه جوړه کړي. تر څو دهغو ترهګرو چې په قبایلي سیمو کې پراته دي مخه یې ونیسي خو په افغانستان او عراق کې شرایط یو تربله سره ډیر توپیر لري، د ډیورنډ کرښې هاخوا د قبایلي ملیشې جوړولو په هکله لا تراوسه سم مالومات نشته او لا ډیر سوالونه دي چې ځواب یې باید وموندل شي، لومړې خبره خو داده چې که د دې ملیشه په جوړولو او کنترول کې په هر شکل چې وي پاکستان دخیل شي نو ترهغې دا ډیره ښه ده چې دا ملیشه جوړه نه شي، سره له دې چې پاکستان اوس پخپله هم د بنسټ پالو سره په جګړه بوخت دي خو بیاهم په هیڅ قیمت نه غواړي افغانستان ته سوله او امنیت راستون شي، په افغانستان کې د ترهګرۍ جګړه پاکستان پیل کړي او پاکستان دا جګړه دخپل ژوند د پایښت او نه پایښت جګړه بولي. نو که د دې ملیشې واك د پاکستان او بیا په تیره د آیي ایس آیي لاس ته ولویږي نودا خو کیداي شي چې د بنسټ پالو هغه ډلې چې د پاکستان سره په ښښتو بوختي دي هغه له منځه یوسي، خو هغه ترهګر او هغه طالبان چې په افغانستان کې په جګړه بوخت دي هغوي به نه یواځې دا چې له منځه لاړ نه شي بلکې لا به هم بیاوړي شي. خو که دا هڅه وشي چې پاکستان په دې ملیشو کنترول ونه لري نو آیا پاکستان به د ډیورنډ د کرښې ها خوا د داسې ملیشو جوړیدل وزغمي ؟
زه دا منم چې که د کرښې ها خوا هغه قومي مشرانو او سیاسي ځواکونو سره چې د بنسټپالني او ترهګرۍ سره مخالف دي مرستې وشي او هغوي ځواکمن کړاي شي د ترهګرۍ او بنسټ پالني په مخنیوې کې به دا یوه اغیزمنه لار وي خود دې لپاره ډیرو سمو اوکره کړنلارو ته اړتیا لیدل کیږي، تر ټولو دمخه خو دا باید وسنجول شي چې په قبایلي سیمو کې د ترهګري پرضد د یوي ملیشې د جوړیدو پوتانسیل څومره دي، ایا د قبایلي سیمو خلك په ذهني توګه دې کار ته چمتو دي، ترټولو دمخه په قبایلي سیمو کې د ذهنیت جوړولو لپاره کار وشي ، او دا کار یو پراخ اړیکتیایي او مطبوعاتي کمپاین ته اړتیا لري، هلته دخلکو او قومي مشرانو سره باید دا خبره وشي او په دې باید وپوهول شي چې اوسنې جګړه د قبایلو او ټولو پښتنو په سیاسي ژوند څومره ناوړه اغیزې لري، همدارنګه هلته باید دآیي ایس آیي د تخریبي فعالیتونو مخه ونیول شي، دا ایي ایس آیي وه چې په قبایلي سیمو کې یې ترهګري او بنسټپالني ته وده ورکړه او هلته د بنسټپالو په لاس د سیمې رښتیني قومي مشران و وژل، نو اوس که په قبایلي سیمو کې د ترهګري ضد د یو ځواك د جوړیدو هڅه کیږي، باید د پاکستان لاسونه تري لري وساتل شي، ښکاره ده پاکستان په اسانه دي کارته نه چمتو کیږي خود ترهګرۍ پرضد نړیوال ائتلاف د پاکستان مرۍ ترهغو کیکاږي چې پاکستان دي کار ته چمتو شي او په قبایلي سیمو کې د ترهګري پرضد رښتیوني مبارزه په لار واچول شي
که د ډیورنډ کرښې هاخوا د ترهګرۍ پرضد کومه ملیشه جوړیږي باید د ترهګرۍ سره وران قومي مشرانو، پښتون ملت پالو اومنځلارو دیني عالمانو په خوا کې افغانستان هم په دې بهیر کې ګډون ولري، افغانستان چې د ترهګرۍ ترټولو ستر قرباني دی د ترهګرۍ پرضد په ټولو هڅوکې یې باید خبره واوریدل شي او ومنل شي، که داسې وشي نو یو څه هیله شته چې دا ملیشه به اغیزمنه وي خو که امریکا یو ځل بیا د دې ملیشې په جوړولو کې پاکستان دخیل کړ نو یو ځله بیا په ثابته شي چې آیي ایس آیي اوس هم په ډیرې هوښیارۍ امریکا او نوره غربي نړۍ په ګوتو نڅوي او خپل اهداف ترې په ګوتو کوي.

# له پوهاند رشاد سره دمشال مرکه:

یادونه: :که څه هم د اروانباد پوهاند رشاد مرکه مخکې د ځینو رسنیو په وسیله خپره شوې ، خو څرنګه چې په مرکه کې د پښتو ژبې په هکله ځینو مهمو مسئلو ته اشاره شوې ده نو د سپین غر مجلې مینه والو زمونږ څخه بیا بیا غوښتنه کړې ترڅو دا مرکه بیا خپره کړو، دادې مونږ هم د مینه والو او لوستونکو غوښتنو ته مثبت ځواب وو ایه او دا مرکه مو بیا خپره کړه ترڅو ددرنو لوستونکو تنده پرې ماته شي.
د پښتو او اسلام وپیپانې څخه په مننه.
اداره

## ماهیځکله دخپلو اثارو دچاپولو له پاره چاته غاړه کږه کړې نه ده

## پښتانه له خپل تاریخ سره بې باکه او بې وفا دي

یادونه: اروانباد‌پوهاند‌استادرشاد دهېوادله نومیالیوعلمي څېروڅخه راپاتې یوائنی داسي څېره وه چې په اوس مهال کې یې وجود د څېړنو اوګرویږنو په ډګرکې ډېرزیات ارزښت درلود، دعلم په میدان کې نوموړي زیاتې خوارۍ اوستونزې وګاللې ،۱۳۸۴ل کال دلیندۍ په 11 مه دچهارشنبې په ورځ ماسپښین مهال دکابل په څلورسوه بستریز روغتون کې یې خپله اروا د 83 کالوپه عمرخپل اصلي څښتن ته وسپارله اوپه دی توګه دهیواد په علمي اوفرهنګي اُفق کې دغه ځلانده ستوری هم ولوید. خدای دې وبښي.

نوموړی دکندهارښارد"بابړو کوځې" په یوه مخوره کورنۍ کې دلړم په 13مه کال 1300 هـ ش کې چې دصفرې له 13چې دکال 1340هـ اودمیلادي کال له 1921م دنومبرله 14مې نیټې سره سمون خوري وزیږېده، لومړنۍزده کړې یې له خپله پلاره اروانباد عبدالغفورخان نه سرته ورسولې ، په ۱۳۳۳ل کې له ښونځي نه فارغ اوپه 13کلنۍ کې ښوونکی وټاکل شو، په1914 م کې دعلمي څېړنوله پاره هندته ولاړ، په 1958م کې دپښتوټولنې غړی اوورسته یې مرستیال شو،ددی ترځنګ دکابل په پوهنتون کې دژبې اوادبیاتو استادهم و، په 1961م دپخواني شوروي اتحاد دسنټ پیټرز برګ ښار دختیځ پوهنې په انستیټوټ کې دپښتوژبې استادشو، دونیم کاله ورسته بېرته خپل هیوادته راغی په 1978م کې تقاعدشو، استادله هیواده دباندې، سعودي عربستان، چاپان، پاکستان، یمن، اوامریکاته سفرونه کړي وو، له پښتواوفارسي څخه پرته نوموړی په عربي ،اردو، هندي ، جاپاني ، انګریزي، روسي، اوسانسکرت ژبو هم پوهېده.

اروانباد رشادصیب په خپل 83کلن عمر کې څه دپاسه اویا(70)کتابونه اورسالې ولیکلې چې په هغه کې داسې کتابونه هم شته چې شپږ ټوکه لري، نژدې دیرش اثاریې چاپ اوپاتې نوریې لاچاپ ندي او لامل هغه دی لکه چې نوموړي له مونږ سره په مرکه کې څرګنده کړې. له وفات نه څه موده دمخه له نوموړي سره دنفیس ټولنې"مشال" مجلې دهېواد دنومیالیو څېرو دپېژندلو اوارزښت اوورته نوروعلمي موضوع ګانو باندی دزړه خواله کړې.

کله چې خبرخانې مینې ته ورسیدو دنوموړي دکوردروازه موزړه نازړه وټکوله اوپه زړه کې مو ویل چې خدای خبررشادصیب به په بدن دومره غښتلی وي چې له مونږ سره به خبرې وکړای شي اویابه زمونږ سره دمرکې له پاره وخت ولري ، زمونږ دګومان پرخلاف یوسړی چې ساده سپین کالي یې په تن و ،ګردی څنې یې لرلې اودکندهارد‌سپین روبو خولۍ یې په سر وه زمونږ تود هرکلی وکړ،سمدلاسه یې مونږ ته دخپل کتابتون په لوري (چې په دوهم پوړکې واقع و) دختلو لارښونه وکړه اودروازه یې په خپل لاس بنده کړه، که څه هم ډاکټرانو دنوموړي د دناستې دځای ښیېخواته دلیدونکو له پاره دزیاتو خبرو ،دنه کولو لارښونه لیکلې وه خوزمونږ تنده اوداستادمهرباني دامرکه له 15- 5 پاوباندې پنځو بجو څخه شپږنیمو بجوته وغځوله، اودپوښتونو بهیرداسې پیل شو:

پوښتنه : هندي مؤرخین اوسوانح لیکونکي تل داګیله کوي چې افغانانودخپلو علمي اوفرهنګي څېرو او رجالو تاریخ نه دی خوندي کړی ؟

ځواب : رښيتا هم ، داسې ده اورښتيايي ويلي دي ، پښتانه له خپل تارخ سره ډيرېبباکه دي، د دوي په ماغزوکې له سره ددی شيانو له پاره ځای نسته. يووخت مې دااحمدرضاخان بريلوي چې په قوم بړيڅ اوکورنۍ يې دکندهار له شوراوك څخه هندته تلې وه لوستل چې : دنومو ړي دتصنيفاتو شمېر دوه زره ټوکه ته رسيږي، زه ډيرتعجب سوم مافکرکاوه چې دابه يې دنومو ړي وړې مقالې اونورې ليکنې هم په دې لړکې حساب کړې وي .دهمدی خبرې دسپيناوي له پاره مې يوې علمي موسسې ته چې له لاهورڅخه يې د احمد رضاخان کتابونه خپرول ولېکل چې :

اياد احمد رضاخان ټولې ليکنې د مقالو په شمول همدومره دي اوکه يواځې تاليفات يې هم دومره دي؟

دوی راته وليکل چې : يه ، دا مقالې اورسالې نه دي بلکې دنوموړی جلااوځانگړي تاليفات همدومره دي،رښتياهم پښتانه له خپل تاريخ سره ډېربې وفا او بې باکه دي، علمي څېړې خويې لاپرېږده ددوی دنظامي څېروتاريخ يې هم نامکمل دی، مونږ چې په دې اړه څه ليکو ،ټوله اتکا موپه نوروخلکو وي اوهغه هم، هغه پښتانه دي چې له مملکت څخه دباندې پاتې شوي؟ دهغوی په وسيله زمونږ تاريخ څه ناڅه خوندي پاتې شوی دی، بايد پښتانه دهغوی احترام وکړي .

پوښتنه: په اوس وخت کې کچېرته دافغانستان پر نومياليوعلمي څېړوکار وشي؛ داکار څومره ارزښتمن بولئ؟ اواياأوس ډېر ناوخته نه دی؟

ځواب : دهروخت شخصيت دهغه وخت له مشاهيرو څخه وي، داچې څومره وخت پرې تير شوی ، داجلاخبره ده،همدا احمدرضاخان دی چې که څه هم په **1841**م کې تېرشوی اوله يونيم سل کاله پرې زيات عمر اوښتی خوڅېره يې بايد خوندي وساتل شي.

خبره مې دپښتنودتاريخ کوله : يوه ورځ مې ديوه انگريز ليکوال په ليکنوکې ولوستل : کله چې شجاع الدوله دانگريزانو په ملتياپر دروهيل کنډ حمله وکړه اوپه چوراوتالان کې يې له هغه ځايه دپښتنو **48** صندوقونه کتابونه له ځانه سره دبريطانيي موزيم ته يووړل چې داټول دهغوعلماوو اومؤرخينو رسالې وي چې هلته اوسېدل،هغه ليکي چې اوس يې وينم په موزيم کې ډېرصندوقونه بند پراته دي او سر يې لاخلاص شوی نه دی، کچيرته انگريزانودغه صندوقونه له ځانه سره وړي نه وای؛ دابه هم له منځه تللي وو ، داځکه چې په پښتنوکې ددی شيانو دساتلو ارزښت اوڅرك نه وينم.

پوښتنه : تاسې په دی اړه څومره کارکړ ی ؟

ځواب : ماخوپه دی هکله يوکتاب چې "پښتانه مصنفين" نومېږي په څلورټوکه کې کښلی دی چې دری ټوکه يې راسره سته ، او څلورم ټوك يې ډېر وخت زما په نظرنه راځي. په دې کتاب ماهغه پښتانه علماء او مؤرخين رايوځای کړي چې له افغانستان څخه وتلي دهنداوشام ترڅنډوپوري رسيدلي دي .

(( اروابښاداستادبياهغه دری ټوکه کتابونه راوغوښتل اوزمونږ مخ ته يې کېښودل چې په منډه منډه مو له هغه څخه ځيني معلومات راټول او ستاسې مخ ته يې ږدواودرشادصيب خبرې به هم دهغه په څنګ کې اورو ،کتاب دمسودی په شکل دالف،اوبا، له ترتيب پرته ليکل شوی. ))

استاد ويل چې: کوم علماواوليکولان مې مخ ته راغلي له ترتيب پرته مې هغه رايوځای کړي دي، اود نه چاپولو سبب يې دادی چې : زه نه غواړم دخپلواثارو دچاپولو له پاره چاته غاړه کږه کړم .

(( دکتاب په لوموړي ټوك کې (**195**) نوميالۍ څېرې راغلي چې **321**مخه لري اوپه منډه منډه مې د يو څو نومياليو دڅېرونومونه راوخيستل:

**(1)**ملاوسيم گل دباسولی کتاب مُولف چې داکتاب پر شرح ملا باندې دنوموړي حاشيه ده.

(2)حمد الله اخنزاده د"کندیاکتاب "مُولف چې دمنطقو د سُلم کتاب شرحه ده اوتردې نزدې وخته پورې درساً لوستل کېدله.

(3)بختیاروخان درياض الاولیامُولف.

(4)حاجی عبد الله چې پرمتنبي يې شرحه کښلی.

(5)ملافقیرکاموي.

(6)ملافقیرا الله جلال ابادي د"قطب الارشاد"مُولف.

(7)حبیب الرحمن مشوانۍ.

(8)اکبرشانجیب ابادي چې په اردوژبه د اسلام ډيرښکلی او مشهورتاریخ لري.

(9) شیخ عبد الباقي افغاني

(10)شیخ عبدالله اندړ

(11)ابن الحسن بن عبد الله د" تفسیرزاهد"مُولف.

(12)حاجي دوست محمد کندهاري.

(13)مولانا عبد الحکیم کندهاري د سوريې په پلازمينه دمشق کې ميشت واوپر"کنز"د"معادن الحقايق "په نامه شرحه لري .

دوهم ټوك يې هم له يو نيم سل څخه زياتې مشهورې څيرې لرلې چې له 558مخ نيولې تر 1152 مخ پورې و اوپه دې ترتيب دوهم ټوك (594)مخه وو ، اومشهورې څيرې په لاندې ډول دي.

(1) ابو الوفاء الافغاني :نوموړی دعلم دخدمت په لاره ډيرې سختې اوستونزې دهند په نيمه وچه کې ګاللي اودعلم دښه خدمت په خاطرېې واده هم کړی نه و ، داحنافو دفقهي شپږ لومړني کتابونه چې په اصول الستة سره ياديږی، دا د امام محمد(رح)تصنيفونه دي ،زياتره يې نوموړي په خپل همت اوزيارله ښکلي لمن ليکونوسره له مصراو هند نه خپاره کړل، دغه څېر امام محمداو ابويوسف رحمه الله پر"کتاب الاثار" باندې ښکلې شرحې وليکلی اوبيايې له مصرنه چاپ کړي.))

رشادصيب ويل : ماله نوموړي سره مکاتبه لرله، يوځل مې دهند په دکن اودوه وارې په کابل اوکندهارکې ليدلی و اوله ماسره يې ليکونه اوس هم سته، (2) شيخ يوسف البنوري .نوموړی دشيخ ادم بنوري ( چې په قوم بړيڅ اودامام مجددالف ثانی سترسجاده نشين و) په لمسيانو کې راځي. يووخت چې اروانباد ابوالوفاء افغاني کابل ته راغلی و ، ماورته وويل چې:

شيخ يوسف بنوري دهند د"بنور"دی، دی ولې له ځانه سره ((سيد)) ليکي، داخبره افغاني صيب هغه ته کړې وه، نوموړي دهمدی خبرې دسپيناوي له پاره پيغام راستولی و ماورته وويل چې : ادم بنوري په خپله له ځانه سره مشوانۍ ليکي اوهغه سيدنه و ، له هغه وروسته يې هيڅ پيغام نه راغی، په هرحال،نوموړی ډيرسترمحدث اوپه کراچې کې يې دجامعه الاسلاميه په نوم يوه ډيره ستره مدرسه جوړه کړه اوپه جامع ترمذي باندې دمعارف السنن په نامه په عربي ژبه کې يوه ښکلې شرحه په شپږ ټوکه کې لري، ادم بنوری په خپله دمغولانو له ويرې له هندنه حجازته ولاړاوهلته دمسافرۍ په حالت کې مړشو .))

(3)سياح الدين کاکا خيل.

(4) شیر احمد خان.

دریم ټوك یې هم یو سل او یا مخه لرل او مشهورې څیرې یې داوې:

(1) عبدالغفوربارى

(2).منشي عبد الكريم كاکړ

(3)عبد الرحيم مندوخیل.

نوموړی ویل :

ماددې کتاب په لیکلوکې نه یواځې له چاپ شویو اثاروا ستفاده کړې بلکې ددې کارله پاره مې له هغو یادښتونو څخه هم کاراخستی چې دلیلیتن ګراد هند، امریکا، ترکیې، اوچاپان اونورو هیوادونو په کتابخونوکې مې له نظره تېرشوي وو، دتاشکندپه کتابخانه کې نزدې پنځه سوه خطي نسخې دي چې زیاتره یې ماله نظره تیره کړې دي. ددوشنبی په " فردوسي" نومي کتابتون مې لټ په لټ کړی اوزیاتره خطي نسخي یې ماکتلي دي..

استاد زیاته کړه : خبره مې له خپل تاریخ سره دپښتنو دبی وفایې کوله : یووخت مې اوریدلي و چې دچاپان په توکیوکې پرپښتوژبه یوکتاب سته چې څوارلس سوه کلن زوړتاریخ لري، کله چې چاپان ته ولاړم ددې کتاب پو ښتنه مې وکړه دکتابخانې څښتن راته وویل : چې کتاب خو شته خوداچې ډیرزیات وخت پر ي تیرشوی مونږپه ډېر احتیاط سره دهغه له مخه یوڅو فلمونه اخیستي دي ماچې دفلمونو غوښتنه وکړه هغوی راته وویل چې تاسې ددی کارله پاره دخپل تعلیم وزارت څخه دخپل خارجه وزارت له لارې اجازه واخلئ.

یوبل وخت چې ورغلم دکتابتون څښتن راته لاس ښوراوه اوراته وویل یې چې : زیری درکوم ستاکتاب چاپ سوې نسخه مې پیداکړه چې څلورسوه کاله له مخه چاپ شوې اوبیایې دهغه ځای ادرس راکړچېرته چې داکتاب چاپ شوی و، اودخپل زوی په ملتیاهغه ځای ته ولاړم اوپه اوه زره ینه مې هغه کتاب راونیو.

یوبل وخت دهغې کتابخانی څښتن راته وویل چې ستاکتاب انګریزي ژبې ته ژباړل شوی دکتاب انګریزي ژباړه چې دزوی په ملتیامې پیداکړه په لس زره ینه مې روانیوله ،له هغه ځایه مې دافغانستان دعلوماکاډمي دهغه وخت مشرته ولیکل چې : باید دکتاب خطي نسخه دخپل خارجه وزارت له لارې رواغواړئ دخط په رسېدو دعلومو اکاډمۍ مشرراته ولیکل تاسې دې خدای په خیرروالي ، په اوس وخت کې زمونږ دچاپان سره اړیکې ښې نه دي.

رشادصیب له تاریخ سره دپښتنودبې وفایې په ترخ کې موږته دزړه په ډیر دردسره داروانښاد حبیبي صیب او اروا ښاد بینواصیب دکتابتونو(کتابخانو) دلمنځه تلو داستان پو په بل پسې واورول راته ویل یې چې:

داروانښادبینواصیب له مرګ نه ورسته دنوموړي کتابتون دیواوبل په لاس له منځه ولاړاوچې کله خبریدم ایله یوڅو ټوکه پاتې وو نورټول پلورل شوي وو اوهغه چې دخپل کتاب یعنی "دافغانستان نومیالي" دپنځم ټوك له پاره نږدې زرپاڼې کومه لیکنه کړې وه هغه لاس ته راغله اوتراوسه له ما سره خوندي ده.

ښاغلي استاد دغه راز داروانښاد حبیبي صیب د کتابخانې د له منځه تلو کیسه هم وکړه ویل یې چې : د نوموړي دکتابتون دساتنې په خاطردهغه کتابونه داوسپنې په بیلرونو کې واچول شول، څه وخت وروسته دنوموړي دکتابتون نسخې مې په بازارکې ولیدلې وروسته بیا پوه شوم چې دهزاره توکم یو تن هغه بیلرونوته دځمکی لاندی لاره ورجوړه کړې وه ، کله موچې دهغه دپاته کتابونو

دراسپړلوله پاره هیئت واستاوه بیامعلومه شوه چې نورو بیلرونوته دباران اوبه برابرې شوې وې اوټول کتابونه یې له منځه وړي وو.

دمرکې په پای کې مورشادصیب ته دنفیس علمي ټولنې دموخواومقاصدو معلومات ورکړل او په لنډه توګه مونوموړي ته دټولنې دپرانیستلو موخه په لنډوتوروکې داسې بیان کړه چې : دین په ساده پښتوژبه کول اوپښتوژبی ته له نوروژبو څخه ددیني اوعلمي اثارو راژباړل اوپه پښتنوکې دديني ښوونو عام کول دټولنې ترټولو ښکاره موخې دي .

رشادصیب وویل:

زه په دی کارډیرخوشحاله شوم چې که چیرته په پښتنوکې دیني ښوونی عامې شې دابه ډیرغوره وي ځکه مونږ پښتانه نورې ژبی دوسیله په توګه یادووترڅوپه دې دنورو ژبو غوره اثارخپلې ژبې ته راوژباړواوخپله ژپه بډایه کړو، کچیرته داکاروشي نوزمونږ وخت اوانرژي به له ویسلې څخه راوسپمول شي اودویسلې په ځای به په غایه باندی مصرف شي خدای موبریالي لره.

مرکیال : قاسمي

## د ناروېژي ختیځ پېژندونکي ګیورګ مورګن ستیانه د سرو زرو مډال:

د سږکال د نوومبر په درویشتمه نېټه په پلازمېنه کابل کې د «افغان کولتوري ټولنو» او «پښتو ژبې نړۍ والۍ مرکې» په نوښت د ناروېژي پښتو ژب پوهاند ګیورګ مرګن ستیانه Georg Morgenstierne د سرو زرو مډال وتلې امریکایي افغانستان پېژندونکې مېرمن نانسي ډوپرې Nancy H. Dupree ته ورکړل شو.
د یادونې وړ ده چې مورګن ستیانه څه ناڅه نیمه پېړۍ ( ۱۹۲۴-۱۹۷۵) په افغانستان کې ارزښتناکه کولتوري څېړنې سر ته رسولي دي.
افغان کولتورپه تېربیا د افغانستان ملي ژبې، پښتو ، ته د مورګن ستیانه د خدمتونو د قدردانۍ په خاطر افغانانو د «افغان کولتور ژباړن» د سرو زرو مډال د هغوی په نامه نومولی دی.

---

## د افغانستان ملي تلویزیون اروپا او امریکا ته و غځېد

د افغانستان ملي تلویزیون د۲۰۰۷م کال د جنوري په څلورمه نېټه خپلې خپرونې په رسمي توګه اروپا او امریکا ته پېل کړې.
اوس مهال د افغانستان ملي تلویزیون ۱۸ ساعته خپرونې لري خو په پام کې ده چې په نږدې راتلونکي کې به ۲۴ ساعتونو ته وغځېږي.
هېوادوال کولای شي په اروپا او امریکاکې د افغانستان ملي تلویزیون د سپوږمکۍ له لارې په لاندینیو پتو وګوري:
اروپا:
HotBird:
Frequency 11411H
S.R- 27500
FEC- 5/6
امریکا
Galaxy 25
Frequency 11716 V
S.R- 22000
Galaxy 25
FEC- 1 / 2

زمونږ غازیان

# د خپلواکۍ د بیا ګټلو په معرکه کې د پکتیا د جبهې ملي مبارزین

د پکتیا په جبهه کې د خپلواکۍ د معرکې د شروع کېدلو د مخه په خوست کې د مبارک شاه نورستاني غنډ مشر او په علیخېلو کې د محمد علم غنډ مشر ستانیزي تر قوماندې لاندې دغه افغاني قواوې موجودې وې.: یو پلي غنډ ۳ کنډک او د معرکې د شروع په اثناکې ۱۹۱۹ د اپرېل (۱۲۹۸ هجري شمسي) دغه قواوې د کابل څخه ددوو پلوو کنډکونو ،دوو سپرو ټولیو او لس توپونو سره تقویه شوې.

ددغو قواوو په مقابل کې د انګرېزانو ۱۶ پلي کنډکه، لس سپرې ټولي، د استحکام دوه ټولي، اوه د توپ بترۍ ګانې، څو هاوزران، څو بم اچوونکې الوتکې د ملېشې د کنډکونو سره موجودې وې.

د ۱۹۱۹ کال د مې په میاشت کې دغه قواوې د امبالي د غنډ اوګایډسوم ددوو بتالیونو، یو سپور کاردن، څلور توپونو اوو ددې څخه علاوه د جنرال اوستاسي د سپرو ریجمنت او څلورو بتالیونو سره تقویه شوې.

همداشانې دټل په مهاذ کې ددوو پلو بتالیونو یو سپور سکاردن، څلور توپونه او ددوو نورو بتالیونو مرسته ورسېده او د جنګ په شدت کې د جنرال بینون د ۱۱۶ فرقې یو غنډ او ۴۵فرمې یو غنډ ددوو پنجابي بتالیونو او د پېښور د یوه بترۍ توپونو او ۸۰ بیترۍ او زیاته جباخانه د جنګ مېدان ته راغله. د جنرال دایر څلورم غنډ څلور توپونو سره هم راورسېدل.

څرنګه چې د افغاني قوتوو په مقابل کې مات شو ، نو جنرال اوستاس موقوف شو او پرځای یې جنرال دایر مقرر شو.

په وزیرستان کې انګرېزي قواوې د جنرال اودت په مشرۍ ماتې شوې او د همدغه بې کفایتۍ له مخې هغه جنرال هم له کاره معزول شو. د جنوبي وزیرستان د قوتوو مشر مېجر رسل او د بنو د قواوو مشر جنرال لوکاس و. په کوهاټ کې دوه پلي او سپاره غنډونه ددوه پنجابي کنډکونو یوې دستې ماشیندارو او په پاړه چنارکې دوه پلي او سواره غنډونه، یوه ټولی ملېشه او توپخانه وه د کرم د ملېشاو قوماندان میجر دات و.

ددغې جبهې د افغاني قواوو د مشهورو صاحبمنصبانو نومونه دادي :

ډګرمن مبارک شاه خان نورستانی، جګړن محمد علم خان لوګری ستانیزی، ډګرمن پینه بیګ خان ( وروسته جنرال)، جګړن عبدالقیوم خان پغمانی، جګړن یونس خان، جګړن قاسم خان توپچي لوګری، جګړن محمد عِظیم خان، جګتورن عبدالطیف، جګتورن محمد ابراهیم کمیدان، جګتورن امیرمحمد کمیدان، جګتورن نواب خان کمیدان پنجشیری، جګتورن احمدجانخان کابلی، تورن شیراحمدخان، تورن فقیر محمد ، جګړن جلادخان لوګری، بریدمن یارمحمد ګردېزی، بریدمن خېر محمد ، بریدمن عبدالحمید ساپی توپچي، بریدمن اقامحمد یاور لوګری، جګړن دادمحمد لنډی، جګړن نورمحمد هودخېل، جګړن ګل احمد ، تورن پیرمحمد تره خېل، عبدالغني احمدزی، ، سرخابي لوګری (جنرال)، عبدالقیوم جنرال.

له روحانینو او قومي مشرانو څخه:

حاجي ملا همزه، د موسهی اخندزاده صاحب د تل په محاذکې شمس المشایخ فضل محمد مجددي، د وزیرستان په محاذ کې ملامحمدجان، قاضی عبدالرحمن پغمانی، د اتمانزو ملاصاحب ملا عبدالمحمد غزنوي.

د غم په پړي مې مرۍ مه تړئ
ماته د اوښکو غاړه کۍ مه تړئ

زه د نړۍ د باداری لایـق یم
ما په ځنځیر د غلامۍ مــه تړئ

عزت الله ځواب

د لوی خدایج په نامه

# په حجته الوداع کې د رسول ص خطبه

یو مؤمن او مسلمان هغه وخت کامل مسلمان ګڼل کېږي چې خپل ویل او کول، فعل او عمل د پاک قرآن د حکمونو او د پاک رسول او خاتم النبیین حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د سنتو او طریقو سره یوشان او برابر کړي، د څه شي څخه چې الله پاک او د الله تعالی رسول حضرت محمد صلی الله منع فرمایلی ده هغه کارونه و نه کړي او د هغو کارونو چې د کولو امر کړی دی هغه د پاک قرآن او نبوي احادیثو سره سم اجرا او عملي کړي.
پاک الله تعالی د حشر د سورت په اووم ایت کې فرمایلي دي، چې ژباړه یې داسې ده:
او هغه څه چې درکوي تاسو ته رسول الله وائې خلئ، ونیسئ، قبول کړئ! او هغه څه چې رسول الله منع کوي هغه پرېږدئ، وویرېږئ د الله د عذاب څخه چې ډېر سخت دی.
درنو او قدرمنو لوستونکو:
څرنګه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم نافرماني د الله تعالی نافرماني ده نو هر یو مسلمان سړی او هره مسلمانه ښځه دنده او مکلفیت لري چې د پاک قرآن د حکمونو تر څنګ د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په سنتو ځانونه خبر او پوه کړي.

مونږ د سپین غر مجلې په دې ګڼه کې پریکړه وکړه چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د حجته الوداع، یانې د رخصتۍ د حج د خطبې ژباړه په لنډ ډول ګرانو لوستونکو ته رانقل کړو، تر څو ګران لوستونکي ددې ارزښتناکې خطبې په لوستلو سره د خپل پاک رسول د هدایتونو او لارښوونو څخه خبر کړو، تر څو د نبوي لارښوونو په رڼا کې خپلو ویلو او کړنو ته د لوی خدایج په مرسته سمون ورکړي.
حضور صلی الله علیه و سلم د عرفات په میدان کې د حجته الوداع په خطبه کې د یولک څخه زیاتو مسلمانانو ته و فرمایل:
- په مسایلو باندې ځانونه پوره پوه کړئ، امکان لري چې ددې کال نه پس مونږ او تاسو بیا یوځای نه شو.
یاد ساتئ ستاسو وینه، مال، عزت او ابرو په یو بل داسې حرام دي لکه څنګه چې د نن ورځې ددې میاشتې او ددې ښار حرمت ګڼئ.
خلکو! تاسو به عنقریب د خدایج په دربار کې حاضرېږئ. یاد لرئ چې هلته به تاسو نه د اعمالو په باره کې تپوس کیږي.
د جاهلیت د زمانې ټولې طریقې په خپو کې و منبلې شوې (له منځه لاړې).
د جاهلیت د زمانې د خونونو (قتلونو) به په راتلونکې کې مطالبه نه کېږي.
ټول سودونه معاف شول او په راتلونکي کې بالکل ختم شو.
زما نه پس د یوبل څټونه مه وهئ او د کافرانو په څېر د یو بل وینو ته مه تږي کېږئ.
د خدایج د کتاب او حکمونو سره سم چې څوک په تاسو حکومت کوي د هغه پوره پوره منئ.
د خپل پروردګار عبادت، لمونځ، روژه او د مسلمانانو حاکمانو پوره اطاعت او پابندي کوي جنت ستاسو دی.
د ښځو په هکله د خدایج څخه ویره کوئ. د هغوی د حقونو پوره خیال ساتئ. تاسو د یوې خاصې ذمه وارۍ سره د هغوی مشران جوړ شوي یاست. ښځې دې هم د سړو پوره پوره تابعداري کوي، د هغوی د رضا او اجازې پرته څوک کورته مه پرېږدي.
تاسو ته د ځان نه وروسته دوه څیزونه پرېږدم، یو د الله تعالی کتاب او بل سنت طریقه او تعلیم، تر څو پورې چې په هغې ټینګ یاست، هیڅکله ه بې لارې او ګمراه نه شئ.
کوم خلک چې دلته موجود یاست، زما ټول پیغامونه نورو خلکو ته ورسوئ ولې چې ډېر ځل بل سړی د لومړي اورېدونکي په نسبت زیات یاد ساتونکی وي.
خلکو! د قیامت په ورځ به زما په هکله ستاسو څخه پوښتنه کیږي، تاسو به څه ځواب ورکوئ؟ ټولو وویل: ګواهي او شاهدي به کوو چې تاسو د الله تعالی ټول حکمونه مونږ ته رارسول، د رسالت او تبلیغ حق مو ادا کړو، مونږ دې په خپلو ښکلو ښه پوه کړو.
حضور صلی الله علیه و سلم اسمان ته ګوته اوچته کړه او ویې فرمایل: یاالله ته ګواه اوسه، خدایه ګواه اوسه، خدایه ګواه اوسه.
د سپین غر مجلې درنو لوستونکو: دا وود حجته الوداع په خطبه کې د حضور صلی الله علیه و سلم ارشادات او لارښوونې چې په لنډه توګه ولیکل شوې. لوی خدای پاک دې ټول اسلامي امت ته توفیق ورکړي چې خپل قولونو او عملونو ته د قرآن او نبوي سنتو په رڼا کې سمون ورکړي.

یادونه: د حجته الوداع د اداکولو نه قریبآ دري میاشتې وروسته حضور صلی الله علیه و سلم ددې فاني دنیا څخه رحلت کړی دی.

# د ځوان او خوږ اواز لرونکي سندرغاړي همایون صاحبزي سره مرکه

۱- کولای شئ د سپین غر مجلې مینه والو ته ځان په لنډه توګه ور وپیژنئ؟
لومړی تر هر څه ستاسې څخه او ستاسې په واسطه د سپین غر مجلې ټولو کارکوونکو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې ماته مو پخپلې وياړلې مجله کې د مرکې وياړ راپه برخه کړ.
نوم مې همایون صاحبزی دی. پلرنی ټاټوبی مې د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالي ده، خو زېږېدلی په بګرام کې یم.
۲- محترم صاحب زی صیب، څومره موده کېږي چې د موسیقۍ د هنر سره بوختیا لرئ؟
هسې خو مې په کوچنیوالي کې یوه سندره د افغانستان په راډیو ټلویزیون کې ثبت شوې وه، مګر هغه وخت ماته د موسیقۍ د زده کړې خاص امکانات نه وو برابر. کله چې په ۱۹۹۵ م کال د سویډن هېواد ته رامهاجر شوم نو دې ته وهڅېدم چې د موسیقۍ زده کړه پیل کړم. په اولو کلونو کې به زیاتره وخت د نورو سندرغاړو سره کښېناستم، هغوی به مې اورېدل او د زده کړې کوښښ به مې کولو. له دې جملې څخه محترم استاد شاه ولي چې هغه وخت په سویډن کې اوسېده، او همدارنګه زما ماما محترم امان الله امیري یادولای شم.
۳- آیا د موسیقۍ هنر ته مو په خپله مخه کړې او که کوم بل چا هڅولي یاست؟
د وطن څخه لرې والي، او د سویډن خړې او پیکه هوا دې ته مجبور او وهڅولم چې موسیقۍ ته مخه کړم. ځکه چې وایي [موسیقي د روح غذا ده]. د کورنۍ د ټولو غړو له خوا هم ډېر هڅول شوی یم.
۴- آیا څوک استاد او نور همکاران هم لرئ چې د موسیقۍ په برخه کې درسره مرسته کوي؟
د موسیقۍ د رواج له مخې مې تر اوسه چاته ګوړه نه ده ایښي. مګر د مختلفو سندرغاړو څخه مې سلا او مشورې اخیستې چې زما په هنر کې یې مثبت اثرات ښودلي.
۵- تر اوسه مو څو موزیک البومونه جوړ کړي دي او ستاسو مینه وال یې له کومه ځایه ترلاسه کولای شي؟
زما لومړی موزیک البوم چې [ کرشمه ] نومیږي په ۲۰۰۷ م کال د جون په میاشت کې جوړ او مینه والو ته وړاندې شو. نوموړی البوم په جرمني کې د باختر موزیک له خوا خپور شو. ددغه البوم په موسیقۍ او ثبت کې راسره محترم جاوید شریف ډېرې هلې ځلې کړي.
په نوموړي البوم کې راسره څلور شریکې سندرې، چې درې پښتو او یوه هندي ده، یوې هندۍ هنرمندې چې شارون نومیږي ویلي دي.
مینه وال کولای شي چې دغه موزیک البوم په جرمني او نورو هیوادونو کې د افغاني مغازو څخه ترلاسه کړي.
۶- څه ډول موسیقۍ سره ډیره مینه لرئ؟
هسې خو هر ډول موسیقي اورم او خوند ترې اخلم، مګر ډېره علاقه له کلاسیکي او افغاني موسیقۍ سره لرم.
۷- افغاني موسیقي د غربي موسیقۍ په پرتله څرنګه ارزوئ؟
هره موسیقي ځانته ځای، اورېدونکي او شایقین لري. دا به ماته ډېره ګرانه وي چې زه د مثال په ډول افغاني موسیقي له غربي موسیقۍ سره پرتله کړم.
۸- کوم بهرنی هنرمند او یا هم کومه ډله مو ډیره خوښېږي؟
که مرام مو له غربي هنرمندانو او ډلو څخه وي خو خاص د خوښې څوک پکې نه لرم، مګر په کلاسیکه موسیقۍ کې استاد مهدي حسن او استاد غلام علي ډېر اورم او په هر ځل اورېدو کوښښ کوم یو څه ترې زده کړم.
۹- تاسو په خپلو سندرو کې د کومو شاعرانو شعرونه ډیر وایاست؟

هر ښه شعر چې په ما اغېزه وکړي کوښښ کوم چې هغه ووايم . هغه که د پخوانيو شاعرانو وي او که د ننني. د مثال په توګه په تېرو شاعرانو کې د رحمان بابا ، استاد ملنګ جان ، حمزه بابا ، خاطر اپريدي او نورو شعرونه وايم او په اوسنيو شاعرانو کې د محترم پيرمحمد کاروان، اجمل اند ، عبدالمالک بېکسيار ، انجينر بهرام ، صابر اصيلزی، هيواد شېرزاد او نورو ځوانو شاعرانو شعرونه چې لاس ته راغلي نو کوښښ مې کړی چې ويې وايم .

۱۰- آيا د سندرو په کمپوز کې څوک مرسته درسره کوي که پخپله يې جوړوئ؟

تاسې ته به بهتره معلومه وي چې نن سبا نوي کمپوزونه ډېر کم جوړيږي. څه چې دي هماغه پخواني افغاني يا هندي کمپوزونه کم او ډېر کړي او د نوي کمپوز په شکل يې مينه والو ته وړاندې کوي .

زما په لومړي موزيک البوم کې څه کمپوزونه همدغه شان دي . خو نيت او هيله مې داده چې په راتلونکې کې د دوستانو او استادانو په مرسته نوي کمپوزونه مينه والو ته وړاندې کړی شم .

۱۱- تر اوسه مو په کومو هېوادونو کې کنسرتونه ورکړي او نورکوم په پام کې لرئ؟

کنسرتونه مې په زياتره اروپايي هېوادونو کې تر سره کړي، له هغې جملې څخه سويډن، ډنمارک، ناروې، جرمني، هالنډ ، بلجيم يادولای شم .

۱۲- که چيرته تاسو وغواړئ چې د افغانستان د يوه بل تکړه سندر غاړي سره يوځای کنسرت ورکړئ، هغه به څوک وي ؟

زه او محترم جاويد شريف تصميم لرو چې په روان ۲۰۰۸ م کال کې په سکنډنياوي هيوادونو لکه د ناروې د اسلو ښار ، د فنلنډ د هلسينکي ښار او د ډنمارک د کوپن هاګن په ښار کې ګډ کنسرتونه تر سره کړو .

۱۳- د افغانستان د پخوانيو او اوسنيو سندرغاړو له ډلې څخه مو د چا له اواز سره ډيره مينه ده؟

هنرمندان خو ټول د قدر وړ او ډېر ښکلي دي ، زما چې ډېر خوښ دي هغه استاد ايوب، استاد اولمير، استاد ساربان، احمد ظاهر او په اوسنيو هنرمندانو کې مې د محترم استاد شريف غزل، ښاغلي بريالي صمدي او ښاغلي جاويد شريف اوازونه او سندرې خوښې دي .

۱۴- که د ژوند يوه خوږه خاطره د سپين غر مجلې لوستونکو سره شريکه کړئ خوښ به شو.

هر ځل چې زه خپلو مينه والو ته موسيقي اوروم او د هغوی له خوا تشويق کيږي دا زما سره د خوږو خاطرو له جملو څخه دي .

۱۵- د موسيقۍ تر څنګ نور څه کاروبار لرئ؟

زياتره وخت دموسيقۍ سره بوخت يم، په فارغ وخت کې د سويډن د مالمو په ښار کې ښاري بس چلوم .

۱۶- که د خپل شخصي ژوند په هکله لوستونکو ته لنډ معلومات وړاندې کړئ ښه به وي.

زما څخه دوه کشران ورونه دي، يو هارون تيمور او بل فريدون نوميږي . فريدون تکړه تبله غږوونکی دی چې زما سره په کنسرتونو او تمرينونو کې مرسته کوي .

واده مې کړی او يو، يونيم کلن زوی لرم چې حمزه نوميږي .

ستاسو نه ډيره مننه چې مونږ سره مو مرکې لپاره وخت راکړ، او همدارنګه په تروندهايم کې د يوه په زړه پورې کنسرت د ورکولو نه مننه. ستاسو او د پښتو موسيقۍ د ځلانده راتلونکي په هيله.

ستاسې څخه يو ځل بيا مننه چې ماته مو دا موقع مساعده کړه چې ستاسې سره د زړه خواله وکړم .

په درنښت




له چپې خوا څخه: جمشېد ، رحمت الله اميري، همايون صاحبزی، فريد او فرېدون صاحبزی

# په اوسلو کې د افغانانو د کلتوري ټولنې په ابتکار د پښتو ژبې لومړنۍ مشاعره

د ۲۰۰۷ م کال ددسمبر په ۱۲مه نېټه په اوسلو کې د افغانانو د کلتوري ټولنې په ابتکار لومړنۍ مشاعره جوړه شوه. دې مشاعرې ته د توپير او سياسي اړخ او نظريې پرته ټولو افغانانو ته د ګډون بلنه ورکړل شوې وه. او همدا راز په عمل کې جوته شوه چې په مشاعره کې داسې افغانانو چې د سياسي او نظرياتي پلوه يې په خپلو کې سره اختلافات درلودل، خو له نيکه مرغه په مشاعره کې ټولو خپل سياسي اختلافات له پامه غورځولي وو او په اسلامي او افغاني مينه يې په مشاعره کې ګډون کړی وو. په سرکې د پاک قرآن څو ايتونه د پروګرام د کوربه ښاغلي مصطفی امن له خوا  تلاوت شول او ورپسې د مشاعرې پېل د اروانباد استاد ملنګ جان په شعر سره چې د ښاغلي محمد حنيف سعدول لخوا ولوستل شو وشو.



له چپې خوانه: هنر غیرت، مصطفی امن او حکیم الله

له دې نه وروسته ښاغلو شاعرانو، هنر غیرت، عظم الدین علیمي، محمد یوسف خدمتګار، مصطفی امن، رباني خان، الحاج محمد نادر سرشار، اجمل اټک یوسفزي، ډاکتر اسحاق، فرهاد افریدي، حکیم الله، ریاض نانې خېل، حیات الله ایمل، صبور، ضیاالدین امین او نورو ګڼ شمېر شاعرانو د مختلفو سرلیکونو لاندې شعرونه واورول چې په هره برخه کې د حاضرینو له خوا په پرله پسې توګه د لاسونو په پړقولو بدرګه شول. همدارنګه له جرمني څخه انجنیر فریداالله ساپي او عزیزالرحمن سرشار هم خپل شعرونه مشاعرې ته رالېږلي وو چې په ترتیب سره دډاکتر مصطفی امن او انجنیر لطیف الرحمن سرشار له خوا ولوستل شول.

په پای کې ښاغلي انجنیر محمد انعام واک د مشاعرې ارزونه وکړه او دا مشاعره یې د ناروې په تاریخ کې د افغانانو لپاره د ویاړ ډکه پېښه او خاطره وبلله.




له چپې خوانه: عضم الدین علیمي او مصطفی امن

د مشاعرې په پای کې په اوسلو کې د افغانانو د کلتوري ټولنې مشر ښاغلي نظیف الرحمن سرشار د مشاعرې ګډونوال د ټولنې له خوا تیار ې شوې مابنامنۍ ته راوبلل. د مابنامنۍ له خوړلو وروسته یو سندریز پروګرام هم وړاندې شو چې د شپې تر نهه نیمو بجو پورې یې دوام وکړ.



د مشاعرې ګډونکوونکي

# په تروندهایم کې د افغانانو د کلتوري ټولنې لخوا لوی اختر ونمانځل شو

سږ کال هم لکه د تېرو کلونو په څېر د ناروې د تروندهایم په ښار کې د افغانانو د کلتوري ټولنې لخوا لوی اختر ونمانخل شو. د لوی اختر نمانځنې ته په تروندهایم کې او د تروندهایم په شاوخوا سیمو کې اوسېدنکي افغانان رابلل شوي وو. مراسمو ته د ټولنې له خوا دبرابرې شوې مېوې ترڅنګ ګډونکونو کورنیو هم له ځانه سره د اخترډول ډول مېوه راوړې وه. د پروګرام په پېل کې دټولنې مشر ښاغلي فضل الرحمن حمیدي ګډونکونکو ته ښه راغلاست ووایه. مراسم د ټولنې د غړو له خوا په تودو اټنونو لاپسې ښکلی شوی وو.



له ښي لورې څخه: صابر احمدزی، یاسین سالم، روح الله



ملي اتڼ

# نړیوال ریکاردونه

ترټولو لوی پلت فورم:

د نړۍ د ګازو ترټولو لوی پلت فورم ((ترول)) نومېږي چې د ناروې په هېواد کې پروت دی. د نوموړي پلت فورم وزن ۶۵۶۰۰۰ ټنه دی او لوړوالی یې ۳۶۹ متره دی. ددغه پلت فورم په جوړولو کې ۲۴۵۰۰۰ مترمکعبه کانکریټ کارېدلای دی.



ترټولو لوړه ښځه (ژوندۍ):

د نړۍ ترټولو لوړه ښځه امریکایي ((ساندي الن)) ده چې ۲،۳۱ متره لوړه ده.

ترټولو اوږده ژبه:

د نړۍ ترټولو اوږده ژبه د بریتانوي(( ستیفین تایلور)) ده چې ۹،۵ سانتي متره ده .



ترټولو اوږده وېښتان:

د نړۍ تر ټولو اوږده وېښتان د يوې چينايي مېرمنې دي چې ((کشې کيوپنګ)) نومېږي. دغې مېرمنې خپل وېښتان له ۱۳ کلنۍ څخه ساتلي دي چې په ۲۰۰۴م کال کې يې د ۶۲۷،۵ متره اوږدو وېښتانو په درلودلو سره نړېوال ريکارد ټينګ کړ.



تر ټولو د ډېرو ګوتو لرونکی:

په دغه کټګورۍ کې دوه کسان شته چې دواړه د هند اوسېدونکي دي. دغه کسان ((پرانامايا)) او ((ديويندرا)) نومېږي چې دواړه د لاسونو ۱۲ او د خپو ۱۳ ګوتې لري. پرانامايا په ۲۰۰۵ او ديويندرا په ۱۹۹۵م کال کې زېږېدلي دي.

د فوټبال توپ په سرساتل:

دغه ريکارد سويډني(( توماس لوندمن)) د ۲۰۰۴ م کال د فبروري په اووه ويشتمه ټينګ کړی. توماس لوندمن د فوټبال توپ په پرله پسې توګه ۸ ساعته، ۳۲ دقيقې او ۳ ثانيې په خپل سر لوبولې بې له دې چې په ځمکه ترې ولوېږي..

د نړۍ تر ټولو اوږدې سيکي ګانې:

د نړۍ تر ټولو اوږدې سيکي ګانې په ۲۰۰۰ م کال کې په ايټاليا کې جوړې شوي چې اوږدوالی يې ۸،۱۰۴ متره دی.



په غوږ د وزن پورته کول:

دغه ريکارد د ۲۰۰۷ م کال د سپتمبر په ۳۰ مه د((ظفر جيل)) لخوا د اتريش په هېواد کې ټينګ شو چې په يوه غوږ يې وکولای شو ۶۱،۷ کيلوګرامه وزن پورته کړي.



د لاسونو په شا سينه کشي:

انګلستاني ((پادي دویل)) د ۲۰۰۷م کال د نومبر په اتمه نېټه په یو ساعت کې د لاسونو په شا ۱۹۴۰ سینه کشي ګانې سرته ورسولې او په دې توګه یې نړېوال ریکارد ټینک کړ.

لویه منه:
د نړۍ تر ټولو لویه منه په کال ۲۰۰۵ کې په جاپان کې پېدا شوې چې وزن یې ۱،۸۴۹ کیلوګرامه و.



## کوتره او د ګلاب ګل

وه نه وه یوه کوتره وه ، مهربانه او ډیره ښایسته ، یوه ورځ ښایسته کوتره خپلو بچو ته د دانې د پیدا کولو پر نیت له کوره ووته . کوترې خپل ښایسته وزرونه رپول او په هوا کې روانه وه ، روانه وه ...... چې یو ناڅاپه یې د ګلو په یو بڼ کې د ګلاب یو ګل ته پام شو چې ډیر مړاوی دی ٠ کوتره ټیټه شوه د یوې ونې پر څانګه کښیناستله او د ګلاب له ګل څخه یې پوښتنه وکړه : ولې ګرانه ګله ولې داسې مړاوی یې ؟ د ګلاب ګل په خپګان سره کوترې ته وویل : ګرانې کوترې ! وګوره زما نور همزولي څنګه تر او تازه دي خو زه وچ پاتې یم زما پاڼې ټولې وچې شوې دي ، زه د دې ونې شاته یم چاته نه ښکارم نو ځکه څوک اوبه نه راکوي ، زه به وچ شم او نور ګلان به و نه نیسم .





کوترې دګلاب ګل بوټي خبرې واوریدلې او هغه ته یې وویل : ته خپګان مه کوه ګرانه ګله ، زه ځم چې اوبه راوړم او تا پښه کړم زه نه پرېږدم چې ته وچ شې ته به بیا ښایسته ، ښایسته ګلان ونیسې او د همزولو په شان به ترو تازه شې . د ا یې وویل او والوته ، تلله...... تلله..... تلله ....ځو چې د اوبو یوې ویالې ته ورسیده چې کتل یې یوه نجلۍ منګی ډکوي ، کوترې کلیوالې نجلۍ ته سلام ورکړ او د ګلاب ګل د بوټي کیسه یې ورته ورواوروله ۰ نجلۍ منګی له اوبو ډک کړ او کوترې ته یې وو یل : که چیرې ته ماته د ګلاب د هغه بوټي ځای راو ښیې نو زه به هغه له وچیدو وژغورم ، کوترې په ډیرې خوشحالۍ سره ومنله او په هوا شوه ، نجلۍ منګی په سر لاندې او کوتره پاس په هوا تلل.... تلل..... تلل...... ځو چې د ګلاب ګل بوټي ته ورسیدل ۰

نجلۍ د اوبو ډک منګی د ګلاب ګل بوټي ته واړاوه. ګلاب ګل ښې ډیرې اوبه وځښلې او له مهرباني کوترې نه یې مننه وکړه او په خوشحالۍ سره یې وویل : اوس به نو زه هم د نورو همزولو په شان تروتازه شم او ښایسته ښایسته ګلان به ونیسم هوکې ښایسته ښایسته ګلان ..

# ځومره معلومات لرئ؟

١- د بلخ ولایت مرکز کوم دی؟
٢- د ناروې د تېلو او انرژۍ وزیره څه نومېږي؟
٣- د اوبو کیمایي فورمول څه دی؟
٤- کوم فوټبال ټیم د ناروې د غوره ټیمونو په ډله کې لومړی مقام تر لاسه کړ؟
٥- د عراق د فوټبال د ملي لوبډلې ترېنر څوک دی؟
٦- د دیمونیکان دجمهوریت مرکز کوم دی؟
٧- د ناروې کوم ښار د ګلابو د ګلونو د ښار په نامه هم یادېږي؟
٨- په ناروې کې څوک دبرابرۍ او مساواتو د وزارت وزیره ده؟
٩- د نړۍ تر ټولو لویه مسافروړونکې الوتکه څه نومېږي؟
١٠- په ٢٠٠٧م کال کې چا د ((ایدول)) د سندرو سیالي وګټله؟
١١- د هالیوډ وتلی فلمي ستوری ((انتونیو باندیراس)) په اصل کې د کوم هېواد دی؟
١٢- ((لارش سپونهایم)) په ناروې کې دکوم سیاسي ګوند مشري په غاړه لري؟
١٣- د بالیوډ کومه پېژندل شوې فلمي لوبغاړې په ((اجا ناچلې)) فلم کې بیا راوځلېده؟
١٤- ((سیري لیل مانیس)) څوک ده؟
١٥- د اوسلو د ښار نوی ښاروال څه نومېږي؟
١٦- ا. ر. ت. د څه شي مخفف دی؟
١٧- په ٢٠٠٧ م کال کې څوک په فوټبال کې د نړۍ تر ټولو ښه لوبغاړی شو ؟
١٨- د ښځو د هندبال نړیوال اتلولي کوم هېواد وګټله؟
١٩- د شماد تلویزیون مرکز په کوم ښار کې دی؟
٢٠- د فرانسې اوسنی ولسمشر څه نومېږي؟

ځوابونه په دوه دیرشم مخ کې.



۰-**۵** سم ځوابونه: دا څه کوې د خدای ظالمه؟ **۵**-۱۰ سم ځوابونه: ګوزاره کېږي. ۱۰-**۱۵** سم ځوابونه: ښه. **۱۵**-۲۰ سم ځوابونه: ډیر ښه.

# شعرونه

لتهوم

له ځانه ورک شمه خپل ځان لتهوم
د غېرتونو تېر دوران لتهوم
چې را په یادکړي د غورځنګ وختونه
توره او قلم د خوشال خان لتهوم
د ګورګیني سترګو وحشت په لوري
د قام بابا مې میروېس خان لتهوم
چې بیا ځلانده د افغان تاریخ کړي
د پټکي ول د احمدخان لتهوم
دننګونو هنګامې پورته کړي
توري مې شته خو اکبرخان لتهوم
بیا د ملالو مو لښکر راوتی
په لر او بر کې ایوب خان لتهوم
چې درست هېواد یې په مېړانه ویاړي
د قام بچی میرزمانخان لتهوم
چې د وحدت سندره بیا نغمه کړي
دردمند زړګی د ملنګ جان لتهوم
چې پلوشې د شعور بیا خپرې کړي
پښتون بابا محمدګل خان لتهوم
بیا د وطن د خپلواکۍ سودا ته
له سره تېر ځو لېونیان لتهوم
غلیم مې وژني بیا په خپل کاله کې
په اسویلو کې مې توپان لتهوم
چې پرې راټوله مې زخمي سینه کړم
تار تار ریښې مې د ګرېوان لتهوم
خدایه د خپل کرم پېرزو دې وکړې
د وخت ښکېلاک ته بل امان لتهوم
چې هسکه غاړه هر افغان شي عزیز
ازاد خپلواک افغانستان لتهوم
عزیز الرحمن سرشار
ویسلینګ -جرمني

مادې د حسن په محشر کې پرېږده
د لیدو تاب مې په نظر کې پرېږده
د بې وسۍ عمره لوږې شم درنه
د زنده ګۍ نشه مې سر کې پرېږده
زړګیه نن مې د خپل درد په خاطر
یوې ټپې ته په دې غر کې پرېږده
شرنګ دې د لاس د بنګړو غلی مه شه
یوه نغمه ترې په ګودر کې پرېږده
ته ابادۍ ته ځه ابادې اوسې
ما مې د خپل زړه په کنډر کې پرېږده
سپرلي راتلو والا دی پام مرګیه
سائل یې لږ په شورو شر کې پرېږده

رحمت شاه سائل



## د غمونو انبار

په زړګي مې د غمونو پروت انبار دی
په وطن مې بیا چپاو د استعمار دی
قام مې وژني په نامه د طالبانو
بر او کوز پرې د بمونو جوړ ناتار دی
په منلو ارزښتو مې بلوسېږي
پیر، ملا یې په ډالرو تابعدار دی
ټول ویاړونه او کلتور مو تباه کېږي
د پردي او خپل پرې یوشانته ګوزار دی
ازادۍ په نوم فساد یې ملک کې خورکړ
د شرابو او فحشاو ګرم بازار دی
ملي ژبه نابودېږي تپوس نشته
کرزی هم له مورنۍ ژبې بېزار دی
چې لمونځ وکړم سمدلاسه په ما شک کړي
بیا مې نیسي بنسټپال او ګوناکار دی
چې غږ پورته کړم هېواد مې اشغال شوی
ما تورن کړي اسامه سره همکار دی
پردي پالو لوی قاتل راته اتل کړ
ټول پوهېږي پرونی جنایتکار دی
نه طالب نه القاعده یمه دوستانو
خپلواک غواړم خپل هېواد دا مې شعار دی
چې په خپل ملک د پردیو یرغل ستائي
مخ یې تور کړه ای سرشاره لوی غدار دی

محمد نادر سرشار
اوسلو - ناروې

## د لمر په سیورې

د پښتنو غرونو شهبازه! شه اوتر په سیوري
د لوړ همت په غرونو ځه، ساته خیبر په سیوري
بې له همته یو اسره د جهان غوره نه کړې
نه به دی لر چرته په سیوري شي، نه بې په سیوري
د قام بچي مې ستا محلې په غرمو جوړوي
څه په ارزانه لیکي ځان له مقدر په سیوري
غله دي په نیمه شپه چې جوړې کړې ماڼۍ لمسو له
حلاله ګټه کې به نه کړي یو خپل سر په سیوري
نر خپله وینه وچوي قام له سبا جوړوي
سترګې په سرو غرمو کې وړي ساتي نظر په سیوري
بادشاهغه وي چې لښکرې په خپل سیوري ساتي
هغه غلام وي چې ساتي ځان د لښکر په سیوري
ناشنامؤمن یې چې خانانو د نړۍ پرېښودو
ته هم کافر شوي پرېږدې نه اوس مسافر په سیوري
یاره ورځه د پښتنو لا تاج محلې نشته
خو خپله سرو غرمو کې ځي ساتي دلبر په سیوري
وطنه! ته که مې هر څو شړې له خپله ځانه
زه دې لبمه زړه کې کې ساتم د ځیګر په سیوري
په درنو سیورو ناست افغان په سپین مېدان پاتې شو
که لږ هم پوې وي بیا به نه کښېني د غر په سیوري
د وخت بادونو که نن بیا یووړې په جار به وایم
د غر په سیوري سوي تېروت د وزر په سیوري
په پردو سیورو کې خبرې د ضمیر نه کېدي
ځکه ځان خوښ کړو یوسفزي یاسین د لمر په سیوري

ډاکتر یاسین اقبال یوسفزی



**ځوابونه**

۱- مزارشريف، ۲- اوسلاوګ هاګا، ۳-........، ۴- بران، ۵- ایګیل اولسن (ناروېژی)، ۶- سانتو دومینیګو، ۷- مولده، ۸- مانويلا رامین اوسموندسون، ۹- ایر بس (آ ۳۸۰)، ۱۰- ګلین لیسه، ۱۱- هسپانې، ۱۲- چپ، ۱۳- مدهوري، ۱۴- د ناروې د تیوې ۲ خبرياله، ۱۵- فابیان ستانګ، ۱۶- افغانستان راديو تلويزيون، ۱۷- کاکا، ۱۸- روسيې، ۱۹- کابل، ۲۰- نیکولاس سرکوزي

## NYTT PÅ NYTT

### More People Forced to Flee

Western nations take less responsibility for the world's refugees. While the total number of displaced persons is on the increase, the number of asylum seekers to the West continues to sink.

At the start of 2007, 38.4 million people were displaced in different parts of the world. Of this figure, almost two thirds were internally displaced in their own country. At the same time, the number of wars and serious conflicts increased last year. This is shown by new figures from the Norwegian Refugee Council's annual status report on the global refugee situation, Flyktningregnskapet 2007.

- The number of refugees and internally displaced persons has increased for the first time in several years. The number of wars and serious conflicts has increased from 28 to 35, and the number of refugees grew by almost three millions. This trend is of great concern, states the Norwegian Refugee Council secretary General Tomas C. Archer.

Fewer asylum seekers to the West

Despite the worsening global refugee situation in 2006, industrialised nations experienced a drop in the number of asylum seekers for the fifth consecutive year. Since 2001 the number of asylum seekers in the West has halved, with a decrease of ten percent from 2005 to 2006.

- The decreasing number of asylum seekers reflects the trend that rich countries increase their efforts to build walls to keep people out. These include both visible, physical walls, and less visible barriers of tougher visa laws and penalties for airlines who carry people without proper identification, claims Archer.

Ignored situations

The "Flyktningregnskapet 2007" report also presents a list of ten ignored displacement situations that deserves greater attention. These are situations where national governments and the international community have failed in their duty to give aid and protection to those forced to flee.

- For the first time this list of ignored situations deals entirely with internally displaced persons (IDPs). The ten countries on the list have more internally displaced persons than the total number of refugees in exile in the entire world. In many of these countries, the government is behind attacks which have driven the people to flee, Archer explains.

The list of the ignored IDP situations includes Burma, Colombia, the Central African Republic, DR Congo, Somalia, India, Iraq, Russia (Chechnya), Sudan and Uganda.

The West lets down UN peacekeeping efforts

During the past few years, the UN has increased its peacekeeping efforts. Yet, the organisation struggles to get Western nations to provide soldiers for peacekeeping operations in Africa. Rather, Western nations prioritise participation in Nato-led operations in other parts of the world. This means that most soldiers that serve in the UN operations come from developing nations; indeed the countries with the most soldiers in UN uniform are Pakistan, Bangladesh, India, Nepal and Jordan.

### Unbeaten Afghanistan in ACC U-15 Elite Cup semis

KABUL, Nov 29 : Maintaining their unbeaten run, Afghanistan inflicted a crushing defeat on Kuwait in a match of the Asian Cricket Council (ACC) Under-15 Elite Cup in Nepal's capital of Kathmandu.



The national team emerged Group-B leader by registering an easy victory over the opposition in the last outing, Afghan Manager Bashir Khan told Pajhwok Afghan News over the telephone from Kathmandu.

Batting first, Kuwait was skittled out for a meagre 60 in the 20th over - thanks to aggressive bowling spells from Hamid and Matiullah who captured three wickets apiece. Muhammad Hafiz also bowled intelligently, claiming two scalps, the manager said.

Afghanistan reached the target - hands down - in the 11th over for the loss of three wickets only. Muhammad Anwar rattled up 30 to guide his squad to a convincing triumph that saw them go marching into the semi-final of the competition. Hameed won the Man of the Match award.

The 10 days ACC Under-15 Elite Cup (2007), scheduled to conclude on December 4, features Afghanistan, Nepal, the UAE, Malaysia, Kuwait, Singapore, Hong Kong, Oman and Bhutan.

## Afghanistan rich with mineral resources

Afghanistan has significant amounts of undiscovered non-fuel mineral resources that could present a great source of wealth for the country, says the U.S. Geological Survey.

A 2007 preliminary assessment by the USGS, unveiled in November 2007 at a U.S.-Afghan Business Matchmaking Conference in Washington, shows estimates for copper and iron ore resources have the most potential for extraction in Afghanistan.

Scientists also found indications of abundant deposits of colored stones and gemstones, including emerald, ruby, sapphire, garnet, lapis, kunzite, spinel, tourmaline and peridot.

Gold, mercury, sulfur, chromite, talc-magnesite, potash, graphite and sand and gravel were also listed as examples of mineral resources available for extraction.

"Afghanistan has abundant known mineral resources and also significant potential for additional, undiscovered mineral resources," USGS scientist Stephen Peters said in a podcast.

"A viable mineral industry is critical to rebuilding Afghanistan's natural resource sector which, in turn, will contribute to the country's economic stability."

USGS scientists worked alongside the Afghanistan Geological Survey between 2004 and 2007 on the preliminary assessment.  The majority of information on Afghanistan's mineral resources was produced between the early 1950s and 1985.  Until 2001, most of that data was hidden and protected by Afghan scientists.

Since then, the data has been returned to the Afghan government and used to help scientists with the recent assessment.

The current assessment will be used to attract interest and investment as the country works to rebuild its natural resources sector.

"Exploration for and development of mineral deposits can lead to industry and commerce and provide alternative lifestyles to the Afghan people," said Peters.

"A robust mineral industry provides jobs, builds infrastructure and provides government revenue which will contribute to the economic prosperity and stability in the country."

Peters said the known and potential mineral resources are located in all the provinces of Afghanistan.

----------------------------

## China wins right to explore Afghan copper mine

Afghanistan has chosen a Chinese bidder to lease a copper mine which is possibly the world's largest, in a contract that is set to bring in hundreds of millions of dollars.

The 30-year lease has been offered to China Metallurgical Group Corporation (MCC) to develop the Aynak mine 30 kilometres (20 miles) east of Kabul, Afghan mines ministry spokesman said in late November 2007.

China's commerce ministry says in a statement on its website that MCC, a state-owned metal producer and contractor, and Jiangxi Copper Co. would jointly develop the mine.

MCC, expected to sign a deal in the coming months, is to invest around three billion dollars to explore and develop the mine, which will also provide jobs for thousands of Afghans.

The Chinese offer beat bids by Strikeforce, part of Russia's Basic Element Group; the London-based Kazakhmys Consortium; Hunter Dickinson of Canada; and US copper mining firm Phelps Dodge.

The Afghan government would also earn millions of dollars in taxation and take a cut, possibly worth up to 200 million dollars a year depending on the price of copper, of the annual worth of production.

In terms of the deal, the company is expected to build a coal-fired power station with 400 megawatt capacity, half of which would be for the use of families in Logar province where the mine is located.

The company also said it would build a railway line from the town of Hairatan on the Amu Darya (Oxys River) bordering Uzbekistan, through Logar and to Torkham on the Pakistan border to export the minerals.

It added that it would construct a town near the mine for 1,500 families. Other spinoffs would include extra demand for Afghan coal and the creation of small industries using other metal taken from the mine, he said.

First discovered in 1974, the mine is estimated to contain 11.3 million tonnes of copper. About 200,000 tonnes could be extracted a year, says Afghan Mining ministry. ------------------------------

## Norge undertegnet oljeavtale med Afghanistan

**Utviklingsminister Erik Solheim undertegnet i oktober på Norges vegne en oljeavtale med Afghanistan.**

Vi håper denne avtalen åpner døren for et videre samarbeid, og at vi kan få dra nytte av de erfaringer Norge har på dette området, sa gruveminister Ibrahim Adel under undertegningen.

Norske eksperter har alt bistått Afghanistan med et utkast til en

oljelov, som etter planen skal legges fram for nasjonalforsamlingen innen utgangen av år 2007.

Afghanistan kan ha betydelige olje- og gassressurser. Under den sovjetiske okkupasjonen på 1980-tallet ble det startet noe produksjon, men kranene er siden stengt.

Myndighetenes første mål er å åpne gamle gassbrønner for å forsyne hovedstaden med strøm.

Oljeloven skal sikre myndighetene full kontroll over forvaltningen av ressursene, men Afghanistan ønsket også et langsiktig samarbeid med Norge. Det resulterte i avtalen som ble undertegnet mandag.

- Det viktigste arbeidet gjenstår, konstaterte utviklingsminister Erik Solheim da han satte sin signatur på avtalen.

Gjennom oljeavtalen tilbyr Norge rådgivning og eksperter som skal bidra til å utvikle petroleumssektoren i Afghanistan. Dette skal finansieres gjennom det såkalte Olje for utvikling-programmet.

De norske ekspertene skal trene opp afghansk personell og bistå under anbudsrunder og i kontakten med internasjonale oljeselskap.

Rettferdig fordeling av framtidige inntekter og vektlegging på miljøspørsmål er også sentrale tema i avtalen. Noe kommersielt samarbeid er derimot ikke aktuelt, ettersom ingen norske oljeselskap hittil har meldt sin interesse i Afghanistan.

**Miss world 2007**

Miss Kina ble kronet Miss World 2007, mens Miss Angola ble nummer to, og Miss Mexico kapret tredjeplassen.

Den kinesiske Zhang var skyhøy favoritt foran finalen i Sanya på den sørkinesiske ferieøya Hainan, som er blitt kalt Kinas svar på Hawaii. Fjernsynsfolk sa at rundt to milliarder seere i 200 land fulgte den direktesendte finalen.




– Jeg ønsker å bruke min innflytelse som Miss World og min skjønnhet til å hjelpe mennesker i nød, sa 23-åringen etter seieren. Fyrverkeri eksploderte over bygningen der finalen ble holdt, og der folk hadde betalt et beløp tilsvarende opp til 1.650 kroner for billettene.

Zhang Zilin, som bor i Beijing og arbeider som sekretær, beseiret til sammen 106 konkurrenter i årets Miss World-finale. Miss Norway, Lisa-Mari Moen Jünge fra Molde, gikk ikke videre fra første runde i konkurransen i Kina.

**Ny likestillingsminister**

Manuela Ramin-Osmundsen blir ny barne- og likestillingsminister. Hun var den store overraskelsen i ommøbleringen av regjeringen som ble kunngjort torsdag.

Ramin-Osmundsen er født på den franske øya Martinique i Karibia og utdannet jurist i Frankrike.



*Manuela Ramin-Osmundsen*

Osmundsen (44) ble norsk statsborger for bare to uker siden, melder VG Nett. Hun har bodd i Norge i mange år og er gift med Terje Osmundsen, som blant annet har en fortid som statssekretær i en borgerlig regjering. Selv er hun medlem i Oslo Ap.

## Benazir Bhutto assasinated

Ms Bhutto - the first woman PM in an Islamic state - was leaving an election rally in Rawalpindi when a gunman shot her in the neck and set off a bomb.

At least 20 other people died in the attack and several more were injured



Ms Bhutto, leader of the Pakistan People's Party (PPP), had served as prime minister from 1988-1990 and 1993-1996, and had been campaigning ahead of elections due on 8 January.

The attack occurred close to an entrance gate of the city park where Ms Bhutto had been speaking.

Police confirmed reports Ms Bhutto had been shot in the neck and chest before the suicide bomb.



*Benazir Bhutto minutes before she was killed.*

**Afghan National TV in Europe and Northern America**

We are pleased to inform our readers that Afghan National TV (Radio-Television of Afghanistan) has started broadcasting in Europe and Northern America from January 3rd 2008. The channel has joined the Hotbird Satellite for broadcasting in Europe and the Galaxy Satellite for broadcasting in Northern America.

RTA
radio television
afghanistan

*Parameters for Europe:*
Frequency 11411H
S.R- 27500
FEC- 5/6

*Parameters for Northern America:*
Galaxy 25
Frequency 11716 V
S.R- 22000
FEC- 1 / 2

**Kaka verdens beste spiller**

Brasils og Milans Kaka ble kåret til verdens beste spiller på en gala i sveitsiske Zurich.

Tittelen som verdens beste spiller er plukket ut gjennom en avstemning blant landslagstrenere og landslagskapteinere.

Kaka, eller Ricardo Izecson dos Santos Leite som han egentlig heter, vant foran argentinske Lionel Messi og portugisiske Cristiano Ronaldo.

Kaka fikk 1047 stemmer, mens Messi fikk 504 stemmer og Cristiano Ronaldo 426.

**To priser**

Det er den andre prestisjetunge prisen som brasilianeren vinner på kort tid.



Tidligere denne måneden fikk Kaka Gullballen som deles ut til årets spiller i Europa.

Han slutter seg nå til sine landsmenn Ronaldo, Ronaldinho og Rivaldo som tidligere har gått til topps i de to kåringene samme år.

## Du store verden!

### Hviterussland



Republikken Hviterussland er et land i Øst-Europa som grenser til Latvia i nord, Litauen i nordvest, Russland i øst, Polen i vest og Ukraina i sør. Hviterussland grenser ikke til noe hav, men har likevel en havneby og en del kanaltrafikk.

**Nasjonaltnavn:** Respublika Byelarus'

**President:** Alyaksandr Lukashenka (1994)

**Statsminister:** Syarhey Sidorski (2003)

**Areal:** 207 600 km²

**Folketall:** 10 300 483

**Hovedstad og størte by:** Minsk

**Mynteenhet:** Hviterussisk rubel (BYR)

**Språk:** Hviterussisk og russisk

**Religion:** Østeuropeiske ortodokse 80% andre (inkl. Romerske katolsk, protestanter,jøder og muslimer) 20%

**Beliggenhet:** Øst-Europa

**Lesekyndighet**: 100%






### Belize



Belize er et lite land i Mellom-Amerika ved Det karibiske hav. Det grenser til Mexico i nordvest og Guatemala i vest og sør. Honduras ligger på andre siden av Hondurasbukta 75 km unna. Belize var tidligere kjent som *Britisk Honduras*. Navnet Belize kommer fra elva Belize, som Belize City, den tidligere hovedstaden og landets største by også har navnet sitt fra.

**Statsoverhode:** Dronning Elizabeth II (1952)

**Statsminister:** Said Musa (1998)

**Areal:** 22 965 km²

**Folketall:** 294 385

**Hovedstad:** Belmopan

**Største by:** Belize City

**Mynteenhet:** Belize dollar

**Språk:** engelsk,spansk, kreolsk

**Religion:** Romersk-katolske 50%, protestanter 27%, andre 23%

**Lesekyndighet:**: 94%






## Kultur og underholdning

# Rødhette og ulven

Det var en gang en søt liten pike som alle var glad i. Men gamle bestemor var nok aller gladest i henne, og hun visste ikke alt det gode hun skulle gjøre henne. En gang fikk den vesle jenta en rød fløyelshette av bestemor. Og den kledde henne så godt at hun støtt ville gå med den.
Derfor kalte de henne Rødhette.
En dag ropte mor:
"Kom hit, Rødhette! Bestemor er syk og trenger noe å styrke seg på, så nå skal du gå til henne med kaker og vin. Det er best du går med det samme før det blir for varmt. Nå må du love å gå pent og forsiktig og holde deg på veien, for ellers kan du falle og slå i stykker flasken. Og når du kommer inn i stuen til bestemor, må du hilse pent med det samme, og ikke kikke rundt i alle krokene først."
Rødhette lovet alt det mor ba om, og så gikk hun.
Bestemor bodde i en liten stue inne i skogen, en halv times vei fra landsbyen. Da Rødhette var kommet et lite stykke inn i skogen, møtte hun ulven. Men hun visste ikke for et stygt dyr ulven var, så hun ble ikke det grann redd.
"God dag, Rødhette," sa ulven.
"God dag," sa Rødhette.
"Hvor skal du hen så tidlig, Rødhette?"
"Jeg skal til bestemor." "Hva har du i kurven din?"
"Kaker og vin. Vi bakte i går, og nå skal bestemor få litt godt, for hun er syk og ligger til sengs."
"Hvor bor bestemor, da?"
"Du vet der de tre store eiketrærne står, et stykke lenger inn i skogen?" sa Rødhette. "Den stua som står under eiketrærne, er bestemors."
Ulven sa ikke noe mer, men den tenkte for seg selv: "Dette skal riktig bli en godbit for meg!"



Den slo følge et stykke, og så sa den:
"Se på alle de nydelige blomstene, Rødhette! Du ser jo ingen ting når du går slik rett bortover veien. Jeg tror ikke du hører fuglesangen engang! Du går akkurat som du skulle på skolen."

Nå begynte Rødhette å se seg omkring. Hun så sommersolen som danset mellom trærne, og alle de vakre blomstene som vokste tett i tett der inne.
"Jeg vil plukke en bukett til bestemor, så blir hun nok glad," tenkte hun. "Det er så tidlig ennå, så jeg kommer sikkert hjem før det blir mørkt."
Og så gikk hun bort fra veien og innover i skogen for å plukke blomster. Hver gang hun hadde tatt en, syntes hun at en enda penere sto litt lenger borte. Den måtte hun også ha, og slik kom hun dypere og dypere inn i skogen.
Men ulven gikk like til bestemors hus og banket på.
"Hvem er det?" spurte bestemor.
"Det er Rødhette som kommer med vin og kaker til deg. Lukk opp!" sa ulven.
"Trykk bare på dørklinken," sa bestemor, "for jeg orker ikke å stå opp."
Ulven trykket på klinken, og døren sprang opp. Uten å si et ord fór den like bort til sengen og slukte hele bestemor. Så tok den på seg klærne hennes, satte nattkappen på hodet, la seg i sengen og trakk omhenget godt for.
I mens gikk lille Rødhette ute i skogen og plukket blomster. Da hun hadde plukket så mange at hun ikke kunne bære flere, husket hun at hun skulle gå like til bestemor. Hun skyndte seg videre, og det varte ikke lenge før hun kom til den vesle stuen under eiketrærne. Døren sto åpen, og det syntes hun var rart. Men da hun kom inn i stuen syntes hun det ble enda rarere, ja nesten litt uhyggelig. For ellers pleide det å være så morsomt og hyggelig hos bestemor.




"God morgen!" ropte hun, men ingen svarte. Omhenget var trukket for sengen, og da hun ikke hørte noen verdens ting, gikk hun bort og trakk det fra. Der lå bestemor! Nattkappen hennes var trukket helt ned over ansiktet, og hun virket så underlig.
"Men bestemor, hvorfor har du så store ører?", spurte lille Rødhette forskrekket.
"For at jeg kan høre deg bedre, barnet mitt."
"Men bestemor, hvorfor har du så store øyne?"
"For at jeg kan se deg bedre."
"Men bestemor, hvorfor har du så store hender?"
"For at jeg kan gripe fatt i deg."
"Men bestemor, hvorfor har du så stor munn?"
"For at jeg kan ete deg!"
Og så fór ulven opp av senga og slukte stakkars vesle Rødhette.
Nå var ulven så mett at den nesten ikke kunne røre seg. Derfor la den seg opp i sengen igjen og sovnet. Og den snorket så høyt at en jeger som gikk forbi, hørte det. "Kjære, at den gamle kona snorker slik da?" tenkte han. "Jeg får nok gå inn å se om det er noe i veien med henne."
Så gikk han inn i stuen, og da han kom bort til sengen, fikk han se ulven som lå der. "Jasså," sa han, "er det slik det henger sammen! Det var riktig godt jeg fant deg, for jeg har lett lenge etter deg, styggen."
Han ville til å skyte, men så kom han til å tenke på at ulven kanskje hadde slukt bestemor. Tenk om han kunne redde henne! Han la fra seg børsa og tok fram en stor kniv. Og så ga han seg til å skjære opp magen på ulven mens den lå der og sov. Han hadde ikke gjort mer enn et par snitt, da den røde hetten stakk fram. Han skyndte seg å gjøre et par snitt til, og der sprang vesle Rødhette ut av magen på ulven.
"Å, jeg var så redd, så redd!" sa hun. "Det var så skrekkelig mørkt inne i ulven!"
Så kom gamle bestemor fram. Hun levde ennå, men det var nesten ikke pust igjen i

henne. Nå hentet Rødhette noen digre steiner, som de fylte maven til ulven med. Da ulven våknet, ville den springe sin vei, men steinene var for tunge, så den ramlet over ende og døde.
Nå ble de vel glade alle tre! Jegeren tok ulveskinnet og gikk hjem. Bestemor spiste kakene og drakk vinen som Rødhette hadde med i kurven, og da følte hun seg straks mye bedre. Men vesle Rødhette tenkte: "Jeg skal aldri mer det jeg har lovet mor, for da går det bare galt!"

**Matoppskrifter**

# Gaffelkaker

**Antall porsjoner:** 40

**Ingredienser:**
12 dl hvetemel
4 dl sukker
500 g smør
1 egg

**Fremgangsmåte:**
Bland mel, sukker, smør i små terninger og egget til en smidig deig. Bruk gjerne en kjøkkenmaskin.

Bland gjerne deigen med ½ til 1 dl finhakkede rosiner. Trill deigen til små kuler. Legg dem på en smurt plate. Trykk kakene ned med en gaffel, slik at de får et in mønster. Smør kakene med litt smeltet smør, og strø over med perlesukker.

Stek kakene midt i ovnen ved 175 grader i ca 10 minutter.



## Kultur og underholdning



# Hvor mye vet du?



1. Hva heter provinshovedstaden i Balkh?
2. Hva heter Olje- og energiministeren i Norge?
3. Hva er den kjemiske formelen for vann?
4. Hvilket lag vant tippeligaen i år?
5. Hvilket land er Egil Olsen trener for?
6. Hva heter hovedstaden i den Dominikanske republikken?
7. Hvilken norsk by blir også kalt rosenes by?
8. Hvem er den nye likestillingsministeren i Norge?
9. Hva heter verdens største passasjerfly?
10. Hvem vant idol 2007?
11. Hvilket land kommer skuespilleren Antonio Banderas fra?
12. Hvilket parti er Lars Sponheim leder for?
13. Hvilken Bollywood diva gjorde en "come back" med filmen Ajaa Nachle?
14. Hvem er Siri Lill Mannes?
15. Hva heter Oslos nye ordfører?
16. Hva er RTA forkortelse for?
17. Hvem ble kåret til verdens beste fotballspiller 2007?
18. Hvem vant håndball VM for kvinner?
19. I hvilken by har den afghanske tv-kanalen Shamshad TV sitt hovedkvarter?
20. Hva heter Frankrikes nye president?

*Svarene finner du på side 34.*

**10-15 riktige**
Ikke så verst, du blir nok en flink liten hjelper for julenissen J

**0-5 riktige**
Det blir nok ingen gave fra julenissen på deg i år, gitt!

**15-20 riktige**
Ho,Ho, Ho! Du får herved æren av å være julenisse for en dag J

Kultur og underholdning

# Rebus og Hjernetrim

**1. Heis**

En mann bodde i 20. etasje i et høyt boligkompleks. Hver morgen tok han heisen fra leiligheten sin og ned til utgangen i 1. etasje. Han gikk på jobb og kom på hjem igjen på ettermiddagen. Da tok han som vanlig heisen fra 1. etasje og opp til 8. etasje, gikk av og gikk videre trappene opp til 20. etasje.

**2. Jorda rundt**

Hva går jorda rundt og står i et hjørne?

**3. Telefonkatalog**

I en by i Texas har 5% av befolkningen hemmelig telefonnummer. Hvis du velger 100 vilkårlige telefonnummer ut av denne byens telefonkatalog, i gjennomsnitt, hvor mange av disse ville vært hemmelige nummer?

*Fasit på side 32.*

**4. Den amerikanske presidenten**

Den 22. og 24. presidenten i USA hadde samme mor og samme far, men var ikke brødre. Hvordan kan dette ha vært mulig?

**5. Hvilken by?**



**-**

**TALOG**

**+**

**B**

**+**



**-**

**L**

## Kultur og underholdning

**Ny Porsche, kr. 5,000**

En mann satt og leste avisen ved frokostbordet da han ser en interessant annonse som lyder

"Ny Porsche, kr. 5,000"

Mannen synes dette virket utrolig og regnet med at det var en spøk, men tenkte for seg selv "Det er verdt et forsøkt".

Så han drar til adressen og spør damen som åpner om å få se på bilen hun har til salgs.

Hun viser ham bilen, og han får se en nydelig rød Porsche.

- Utrolig, utbryter mannen. - Kan jeg få prøve den en tur?

- Greit, svarer damen.

Mannen tar seg en prøvetur og mot all formodning fungerer den helt perfekt. Når han kommer tilbake til huset spør han hvorfor hun skal selge bilen så billig.

Damen sier med latter i stemmen:

- Mannen min stakk nylig av med sekretæren sin og sa at jeg kunne beholde huset og møblene, men at jeg skulle selge Porschen og sende han pengene.



J J J J J J J J J J

A man was crossing a road one day when a frog called out to him and said, "if you kiss me I will turn into a beautiful princess." He bent over, picked up the frog, and put it in his pocket.

The frog spoke up again and said, "If you kiss me and turn me back into a beautiful princess, I will tell everyone how smart and brave you are and how you are my hero." The man took the frog out of his pocket, smiled at it, and returned it to his pocket.



The frog spoke up again and said, "if you kiss me and turn me back into a beautiful princess, I will be your loving companion for an entire week." The man took the frog out, smiled at it and returned it to his pocket.

The frog then cried out, "If you kiss me and turn me back into a beautiful princess, I will stay with you for a year and do ANYTHING that you want." Again the man took the frog out, smiled at it, and put it back into his pocket.

Finally, the frog asked, "what is the matter? I've told you I'm a beautiful princess that I will stay with you for a year and do any thing that you want. Why wont´ you kiss me?"

The man said, "look I'm a computer programmer. I don't have time for a girlfriend, but a TALKING FROG IS COOL."

J J J J J J J J J J

**God til å regne**

Læreren: - Alle matematikkstykkene dine er jo riktige! Det pleier de ikke å være.
Eleven: - Det er fordi pappa er så syk at han ikke kunne hjelpe meg.

The Los Angeles Police Department (LAPD), The FBI, and the CIA are all trying to prove that they are the best at apprehending criminals. The President decides to give them a test. He releases a rabbit into a forest and each of them has to catch it.

The CIA goes in. They place animal informants throughout the forest. They question all plant and mineral witnesses. After three months of extensive investigations they conclude that rabbits do not exist.

The FBI goes in. After two weeks with no leads they burn the forest, killing everything in it, including the rabbit, and they make no apologies. The rabbit had it coming.

The LAPD goes in. They come out two hours later with a badly beaten bear. The bear is yelling: "Okay! Okay! I'm a rabbit! I'm a rabbit.